کابل

لوبې تاریخي او اجتماعي

may-june 61

2- SEP 25
1981



۳

پرله پسې ګڼه: ۵۰۰

د « رهبر » مجلې دمی ۱۶ کال ۶۱ گڼه کښې د پښتونستان د سترمشر-
خان عبدالغفارخان یولیك خپوردی - کوم چه دغه قیدی مشرد پاکستان
دحیدرآباد له بندیخانې نه دخپل مشرزوی - ښاغلی غنی خان په نامه
استولی دی او دادی مونږ یې گرانو لرستونکو ته وړاندی کوو :
« اداره »

یا ایهاالذین امنوا اصبروا وصابروا ورابطو واتقو الله لعلکم تفلحون

خوږ ه غنی جان ! عمردې ډیر پام دې ښه شه ؛

پس دډیرې ډیرې مینې اومحبت نه - تاسوته به معلومه وی چه زه د حیدرآباد په جیل خانه کښې یم - اوپه هغه وارډ کښې یم چه په کوم کښې ته اوقاضی صاحب وی - خوتاسودوه وی اوزه یوازې یم - اوبیاچه ته لاړې نودقاضی صاحب د ملگرتیا دپاره ماسټر صاحب راغی - شه وخت چه زه دلته راغلم اوماته معلومه شوه چه داهغه ځای دی چه پکښې تاسو درې واړه قیدوی نوعجیبه اثرراباندې وشواوهروخت به تاسودرې واړه راته مخکښې کیدې - او بیا به تیره تیره قاضی صاحب اوماسټرصاحب خومې هیڅ وخت د زړه نه نه وزی کوم قام کښې چه د خدای (ج) د پاره خدمت خلق پاتې نه شی نوهغه قام په دنیا کښې چیرې ترقی کولی نه شی . او په کوم ملك کښې چه د خدمت قدر نه وی هغه ملك چیرې آبادیدی نه شی او دغه وجه ده چه نه مونږ آباد شواونه پاکستان ترقی و کړی شوه . خوږه غنی جان ! زما چاته د خط لیکلو خیال نه واوتراوسه مې چا ته خط لیکلی نه دی - ولې تا ته دا خط ځکه لیکم چه ستا هغه ستنې مې هروخت په ستر گو کښې غړیږی ولې چه ستاصحت ته پرې ډیر نقصان رسی اورسیدلی دی - نوزمادادومره خبره واوره اوعمل پرې و کړه چه اسپتال ته لاړشه اوددې بلا نه د ځانی خلاصیدو کوښښ و کړه چه خدای دې ترې خلاص کړی - خوهسې نه چه هغه بله بلا شروع نه کړی نوزما د پاره به د دې نه لویه بله د خوشحالی خبره نه وی - نو که چری ما خوشحالول غواړی نودابه وکړې - بله داچه بغیرزماداجازته چه څوك زما ملاقات له رانه شی - (ولی) او (نسیم) ته به هم ووایې چه بابا وایی چه صبر کوی - دخدای هر کار دخیروی ولې مونږنه پوهیږو - دحکومت زما دې ځای ته د رالیږلو نه مطلب دادی چه څوك ماسره ملاقات ونه کړی اوما له تکلیف را کړی ولی چه هغه به زما داقیدشه تکلیف نه کړی .

خوږه غنی جان ! کله نا کله خوزمادهغه کورکلی خبراخله - موږخوستا گاونډیان یو هلته کونډې رندې - بچی اوبوډاگان دی - هغوی له لږه ډاد گیرنه او شا با سی ورکوه چه خپل کارونه کوی او خپل فصلونه سمبالوی او که څه خاورې ماورې ته بې ضرورت وی هغه ورله ورکوه.(ولی) ته هم ووایه چه هغه هم کله نا کله دهغوی خبراخلی اوزمادهغی بوگری خبرهم اخلی. (روشن) ، (شاندانه) ، (زرینه) ، او (فریدون) ته می ډیره ډیره دعامینه اومحبت د کور کلی وړو کو ، لویو ته می سلامونه - فقط -

ستا بابا ۶۱/۵/۱

کابل

غبرګولی (۱۳٤۰ش) کال د (۱۳۸۰ ق) کال د (۱۹٦۱ ع کال می او جون

ادبي ، تاریخي او اجتماعي

امتیاز	:	د پښتو ټولنې
د پښتو ټولنې مشر	:	ګل پاچا الفت
مسئول مدیر	:	محمد حسن کاکړ
د تیلفون نمبر	:	۲۱۲۹۱
پته	:	شیر علی خان واټ نوی ښار ، کابل افغانستان

په دې ګڼه کښې

شمېر	لیك	لیکوال	مخ
۱ –	نوې ژب وهنه..	حبیب الله تیزی	۱
۲ –	دنفوسو دزیاتیدو مسئله	د میرا کبر ترجمه	٦
۳ –	گرامر	محمد رحیم الهام	۱۷
٤ –	د لیکلوالو نوکری او خدمت	قدرت الله حداد	۲۷
٥ –	اشعار	د ځینو معاصرو شعراؤ	۳۰
٦ –	یوه گرانه پوښتنه	د حسن کاکړ ترجمه	۳٦
۷ –	د شاعر او فزیک پوه ...	د پالوال ترجمه	۳۷
۸ –	درې اړخیزه نړۍ	د محمد صدیق روهی ترجمه	٤۰
۹ –	د زړه مدار	د حسن کاکړ ترجمه	٤٤
۱۰ –	د شعر په باب تفکرات	د کاکړ ترجمه	٤٦
۱۱ –	اپیکور او دهغه ژوندۍ فلسفه	ظاهر (افق)	٤۸
۱۲ –	هدف	سعید افغانی	٥۲
۱۳ –	مناظره	بختانی	٥٥
۱٤ –	د شاعر پسرلی	ژواک	٥۷
۱٥ –	میلمستیا	محب	٥۹

داشتراك بیه

(په افغانۍ)

په کابل کښې ۴۰

د هېواد په نورو برخو کښې ۴٦

زده کوونکو ته نیمه بیه :

۱- کابل ۲۰

۲- اطراف ۲۳

د باندې ملکو کښې : ٥ امریکایی ډالره

دیوی ګڼې بیه : ۴

د شپږو میاشتو اشتراك هم منل کېږي

د پښتو ټولنې د جاری حساب لمبر په افغانستان بانك

او اطرافي نمایندګیو کښې یې : ۷۱۸۷

داشتراك بیه په اداره کښې هم اخیستل کېږي

حبیب الله تبزی

نوې ژب پوهنه

او زړې خبرې

ترکوم ځایه چه ما ته څرګنده ده ، له ښایسته زیاتې مودې نه را پد پخوازموږ په ملك کښې دلیك او ژبې په برخه کښې کله د «املاء» او رسم الخط دکره کولو په نامه او کله د «معیاری ژبې» دجوړولو په نامه - کله دسوچه ژبې د روا جولو په نامه او کله خپله د یوې ژبې دسره کولو په نامه - کله دژبې دفساد دمخ نیوی په نامه او کله د خلکو د «غلطیو» داصلاح کولو یادرستولو په نامه او کله هم د «ښې» او «بدې» یا «درستې» او «نادرستې» ژبې په نامه دځینو ټولنو اوافرادو له خوا یو لړ لیکنې شوی اوعندالموقع خپرې شوې دی داسې چه ځینو لیکوالو په دې برخه کښې رسالې او کتابونه هم لیکلې دی مګر دا چه آیا دا لیکنې څومره اوترکومې اندازې پورې دژبې د علم داساساتو سره برابرې دی، داسې یوه خبره ده چه لږ څه غورغواړی اودادی زه غواړم چه د کابل مجلې دهمدې ګڼې څخه په مسلسل ډول ورباندې وغبزیږم . ځکه په دې وروستیو وختو کښې ځینې ځلمیان لیکوال په دې موضوع په داسې یوه لهجه غبزیږی چه ګوندې دغه پخوانۍ خبرې ډیرې پخې نه دی بلکه وایې چه زړې دی اوباید له سره غورپرې وشی .

زه ددوی دافکر دقدر وړ بولم او کوښښ کوم چه ترممکن حده پورې په ښه مفصل او عمیق ډول سره دغه موضوع له دوی سره اوږه په اوږه وڅېړم .

ځکه څرنګه چه زموږ دژوند دهرې برخې سره نوی فکر او تحول ملګری دی دغه ډول دژبې اولیك دڅېړنې په برخه کښې هم دا شی حتمی دی او په همدې اساس نن زموږ ګوتو ته دموجوده شرایطو سره سم په دې برخه کښې داسې مطالب راغلی دی چه پرون یې دلته درك هم نه وو .

نوله دې امله داهم باید وویل شی چه کله که په دې برخه کښې زما او یا دځینو نورو ملګرو خبرې دپخوانو خبرو څخه توپیرولری او یا حتی دهغونه مخالفې وی داددې معنانه لری چه وشه د مخنۍ خبرې رټې غلطې او اوسنۍ کاملاً درستې دی. بلکه ددې معنا به داوی چه زموږ دانننۍ خبرې دننیو معلوماتو محصول او دپخوانو مکملې دی

البته د لته د اخبره هم د یادونې وړ ده چه زما خبرې یوازې په پښتو پورې نه دی محدودې بلکه ساحه یې لږ څه ارته ده او کوښښ کوم چه دځینو نورو ژبو څخه هم متعدد مثالونه راواخلم او ورباندې وغبزیږم مثلاً په انګلیسی کښې تل داسې حکمونه شوی دی چه :

د « It IS I - برځای It IS me ویل بده انګلیسی ده » یا کله که:
Every body should take off his hat
پر ځای
Every body should take off their hat
ویل کیږی ، دا ته غلطه ده یا
hisn, hern, ourn, gourn, Theirn
غیر ادبی شکلونه دی . یا د night, fight, light پر ځای Fite' lite ، او nite

لیکل غلطی ده او دا کار د انګلیسی ژبې حیثیت ته صدمه رسوی » دغه ډول هم په پارسو کښې داسې حکمونه شوی دی چه :

«ریختاندن ـ سوختاندن او کوشش کردن غلط دی باید ونه ویل شی » یاد بلند کلمه چه لوړ ، یا پورته معنا لری پـه لومړی زیر ویل دنا پوهو خلکو تلفظ دی . یاد (من نمیتوانم) پر ځای «مه نمی تانم » ویل عامیانه او غیرادبی ژبه ده. یاد «انتقاد» پر ځای «تنقید» ویل درست نه دی.

یا « کـله که دخرد ـ خرسند او خشنود الفاظ په واو یعنی خورد ـ خورسند او خوشنود لیکودا یوه ډیره ستره غلطی ده او پارسو ژبه فاسد وی »

همدا ډول په پښتو کښې فیصله شوې ده چه:

«ځمکه ـ کښې ـ شته ـ ورځ ـ نمړی ـ اوژونده ـ په بله بڼه یعنې مځکه ، کې ـ سته روځ ـ مړی ـ یانوړی ـ او زرنده یا جرنده لیکل رڼه غلطی او په ژبه کښې ګډوډی ده .

د ـ زما ـ زموږ ـ ستا ـ اوستا سی پر ځای ـ د ـ دما ـ دموږ ـ دتاسو ـ اودتاسې استعمالول غیر ادبی ژبه ده .

د ـ احمد راغلی دی پر ځای احمد راغلی ده ویل د ګرامر له قواعدو څخه سرغړول اوډیره لویه خطا ده .

یا کله که ویل کیږی چه : «مادر ته وویلې شې راسه ـ بده او ـ ماد رته وویل چه راشه ، ښه ژبه ده . »

دا او داسې نورې ډیرې زیاتې خبرې دی چه دژبې په میدان کښې خلکو خپل نیلی پرې زغلولی دی

مثلاً وایی په پارسو کښې د «تقدیر» د کلمې استعمال د «تمجید» په معنا غلط دی یا داچه په پښتو کښې د « قصد» استعمال د «بدل یا کینی» په معنا هم غلط دی ځکه چه په عربې کښې یې اصلی معنا بل څه ده .

دغه ډول هم په انګلیسی کښې ډیر عـنعنه پسندان وایی چه موږ باید د « nice » کلمه د (ښکلی) په معنا پخپله لرغونې یعنې اصلی معنا استعمال کړو او هلته ددې معنا د اوسنی معنا ضد ده.

په همدې ترتیب ډیر ځله خلك داسې پوښتنې کوی چه: انګلیسی لرغونی ژ به ده او که چینی؟؟

دغسې بیا بیا ماله ځینو پوهو خلکو څخه دا خبره اوریدلې ده چه پښتو له پاړسو څخه ښه او وسیعه ژبه ده ځکه په پښتو کښې موږ «دوه کتابونه» وایو مګر په پاړسو کښې «دو کتاب» وایو چه په دوهم صورت کښې دمفرد او جمع فرق نه کیږی.

آیا دا حکم منطقی دی؟؟

ایا دا خبره چه وایی ځینې مدنی ژبی لکه انګلیسی او فرانسوی تر ځینو نورو ژبو لکه «اسکیمویی» ژبه چه کښل شوې ژبه او ادب لانه لری ښې دی،

درسته ده او که یه؟؟

ایا دا چه ځینې پاړسو لیکوال وایی:

«نن زموږ ژبې هغه قدرت او قوت چه دغور-غزنی او بلخ نثر لیکونکو دهر ډول مطلب دبیان دپاره لاره په مطلق ډول سره دلاسه ور کړی دی»

درسته ده؟؟

ایا کله که دیوې ژبې ادب تر بلې اوچت وی داددې معناهم لری چه دغه ژبه د ژبې په حیث هم تر هابلې څخه ښه ده؟؟

په همدې ترتیب برسیره پر دې چه موږ ډیر ځله دا سې الفاظ اوروچه «تحریری ژبه» او «تقریری ژبه» دا خبره هم اوریدل کیږی چه «تحریری ژبه» تر «تقریری ژبې» څخه مهمه ده او کله که لیك بدلیږی نو په ژبه کښې هم بدلون راځی.

موږ ګورو چه دا خبره درسته ده او که یه؟؟

ایا لیك او ژبه پرته له دې څخه چه دپوهولو اوراپوهولو له نظره ارزښت لری کوم بل قدسیت هم په کښې پروت دی او که یه؟؟

ایا دګرامریانو دا عام تعریف درست دی چه وایی:

«پښتو صرف دغسې علم دی چه د پښتو د سم ویلو او سم لیکلو دپاره اصل کلمات او د اشتقاق ډول ښیی.»؟؟

ایا معیاری ژبه همداسې جوړ یږی چه دا موږ یې غواړو؟! ایا دا خبره درسته ده چه وایې:

«لیکوال څه چه لیکی باید د صحیح تلفظ له مخې یې ولیکی او په غلط تلفظ پسې لاړ نه شی په هره ژبه کښې دعوامو تلفظ او صحیح تلفظ فرق لری.»؟؟

ایا دا درسته ده چه لرغونې ژبه تر اوسنۍ ژبې نه ښه او اوسنۍ ژبه فاسده یا کمزورې ده؟؟ دا او داسې نورې ډیرې زیاتې خبرې دی چه په نوره نړۍ کښې له ډیره پخوا او زموږ په ملك کښې له څه وخت نه را په د پخوا منځ ته راغلې او خلك ور باندې غږیدلی دی مګر کوم حکمونه چه په دې برخه کښې شوی هغه تر همدې اوسه پورې عجیب او غریب دی.

مثلا د «ځمکه» د کلمې په برخه کښې زما په زړه دی چه یوه ملګری ویل:

«ځمکه» ځکه تر «مځکه» ترجیح لری او باید معیاری وګڼل شی چه د پښتو په نورو خو یندو ژبو کښې هم لومړی پښتو «ځ» ته ورته غږونه

راغلی دی لکه «زمین، جما کا...» یاداچه وایې پلانۍ کلمه ځکه باید داسې و نه لیکو چه خلاف دمنطق ده مثلا په انګلیسی کښې ویل کیږی چه : He don't

ویل غیر منطقی ده ځکه داد do not یوه مختصره بڼه ده او موږ he do نه وایو.

دغه ډول ځینې بیا وایې «مونږ» ځکه باید «مونږ» ولیکل شی چه معیاری ژبه جوړه شی.

ځینې بیاوایی :

«پداسې برخو کښې زموږ دپاره محك او مأخذ دوه شیه دی :

۱-ددې خبرې سره سم چه الفضل للمتقدم دپخوا نواستا دا نو آثار او کلام چه هرو مرو هرډول فصاحت او بلاغت په کښې پروت دی.

۲-علمی او فنی موازین چه هغه بیا پخپله هم دهمدوی دلار ښود نو اور بړونو ثمر دی یعنی کله که موږ ته دیوه ترکیب د درستۍ او صحت یادیوې کلمې دتلفظ او املا په برخه کښې شك پیداشی ددې خبرې دسپینو لو دپاره ډیره ښه لاره مراجعه ده دمتقدمانو آثارو ته ځکه دوی په داسې موارد و کښې دومره دقیق او عمیق او دپاړسو او عربی ژبو درمزونو او دقایقو څخه خبر وو چه دهغوی آثار زموږ دمدعا دلیل دی - آفتاب آمد دلیل آفتاب.»

ځینې بیا وایی.

«په دې برخه کښې په عمومی صورت درسم الخط دترجیح دپاره دې اساسونو ته کتل کیږی

۱-دکلمی اصل او ریښه-۲- ګرامر او قانون ۳-دتلفظ سهولت- دالتباس رفع کول او داسې نور.» اما ځینې بیاله بده مرغه تر دې څخه هم وراوړی او خپل حکمونه په داسې ترتیب صادروی چه زه یې دلته یادول هم لازم نه بولم مګر پخپله به ډیر زیات کوشش وکړم چه د پورته واړو مسئلو دفیصلې دپاره دجهانی او منل شوو پوهانو دډیرو تازه او نویو نظریاتو څخه استفاده وکړم.

او دانظریات دهغو پوهانو دزیار محصول دی چه یې په دې ورو ستیو یو نیم سل کلونو کښې عنعنوی نه بلکه پرعلمی ژبه پر اساس مطالعه کړې او په دې برخه کښې یې خپل نظریات په ډیر واضح او څرګند ډول سره ښکاره کړی دی.

«دغه ډله پوهان عام ډول سره اکثر Linguists یعنې ژب پوهان بلل کیږی.

خو څرنګه چه اکثر خلك د Linguists کلمه دپولی ګلوټ Polyglot یعنی دهغه چا پر معنا استعمالوی چه یو شمیر ژبې یې زده وی نو له دې امله هغه څوك چه په ژبه کښې علمی مطالعه لری اکثر د ساینسټفك لنګوسټ Scientific linguist یا لنګوسټك ساینسټست Linguistic scientist یا لنګوسټیشن Linguistician یعنې علمی ژب پوهان یا دژبې پوهان یا ژب پوهان لفظ ته ترجیح ورکوی.

کوم کار چه دغه لړ پوهان یې سرته رسوی هغه لنګو سټکس Linguistics یعنې ژب پوهنه بلل کیږی. (۱)

البته په دې کښې څه شك نشته چه تر اوسه پورې هم لا داعلم «ژب پوهنه» دومره نه ده تعمیم شوې چه دې یې د ژبې د عنعنوی مطالعې ځای نیولی وی. ځکه تر اوسه هم لا په ښوونځیو کښې د ژبې د مطالعې تدریس په عنعنوی بڼه روان دی او څرنګه چه د مخه هم وویل شو تر اوسه لا ګرامر د ژبې د «صحیح» ویلو او لیکلو علم بلل کیږی یا دا چه د دوی په اصطلاح «ښه» یا «صحیح» ژبه د مطالعې وړ ګڼې اما ژب پوهانو ته نه «صحیح» او نه «غلطه» ژبه معنا لری او نه پر ژبه د دې مقصد د پاره کار کوی چه خلکو ته د «صحیح» ویلو او لیکلو طریقه ورزده کړی بلکه هغوی ژبه فقط د ژبې په حیث څنګه چه ده هغسې مطالعه کوی، چه دا خبره هم ځانته مفصل بحث غواړی او ښایې کوم بل وخت په همدې مجله کښې ورباندې خبرې وکړم ځکه اوس دلته تر هر څه د مخه د پورته خبرو څېړلو ته راځم او غواړم په هره برخه یې په جلا جلا ډول سره وګړیږم او ګران لوستونکی به یې د کابل مجلې په راتلونکو ګڼو کښې په پرله پسې ډول ولولی.

(۱) زموږ خلك تر اوسه د «فلالوجی» کلمه د «ژب پوهنې» په معنا استعمالوی اما دا باید وویل شی چه د «فلالوجی» معنا تر «ژب پوهنې» یعنی «لنګوسټکس» څخه ښایسته زیاته وسیعه ده چه دا ځانته جلا بحث غواړی او زه به کوم بل وخت پرې وغږیږم.

له نیو ټایمز څخه

د میر اکبر ترجمه

د نفوسو د زیاتیدو مسئله

نوی نظریات او قوانین

ایا مخکه به دوګړو د پاره تنګه شی ؟ ایا دا ضرورت به پیښ شی چه د ځمکی دوګړو یوه برخه نور و ستوریو ته نقل شی ؟ ؟ ایا د نفوسو د زیاتیدو د پاره کوم حد موجود دی ؟ په دې لیکنه کښې (ډاکټر ستروملین) د پورتنیو مسئلو په باب توضیحات ورکوی :

هغه څه چه ځینې خلک یې په اسمانو کښې لټوی :

د مطبوعاتی راپورونو له مخې ، لویدیځې نړۍ د سپوږمۍ نقشه له دې امله ترکتنې لاندې نیولې چه له هغې څخه په سړې جګړې کښې کار واخلی او د نورو په مقابل کښې یې د نظامی اډو په څیر استعمال کړی . ښایی ځینې داسې اشخاص هم پیدا شی چه د غیر مسکونو ستورو د استعمار په فکر کښې وی . همدغه سبب دی چه دستوروتر منځ مواصلاتی مسایلو ته زیاته پاملرنه کیږی .

خواوس د نړۍ ډیر کوچنی هیوادونه لا په دې پوهیږی چه د پخوا په شان د قوت انحصار په یوه خوا کښې نه دی . اوس هر څوک کولای شی چه د نړۍ د مترقی هیواد و په قدرت ډاډه وی . استعماری سیستم له ماتې سره مخامخ دی . د نړۍ مترقی هیوادونه سوله غواړی اوتل د تجاوز او متجاوز په مقابل کښې ولاړ دی متجاوزو قوتونو د خپلی متجاوزانه او د فتحې د پالیسۍ په ملاتړ کښې تل دا ویلی دی چه زموږ په هیواد و کښې د وګړو شمیر له اندازې زیات شوی دی — د خلکو د پاره د ژوندکولو ځای پاته نه دی . موږ د ژوندکولو ځای غواړو ، خو په اوسنۍ زمانه کښې ، د پردیو ځمکې لاندې کول ورځ په ورځ سختیږی .

له همدې کبله امپریالستانو د اسمانو خواته مخه کړی ده . او د « کیهانی امپریالزم » په فکر لویدلی دی . تر اوسه په ملیونو انسانان هلته دابدی سعادت په فکر وو ، دوی ته ویل شوی وو چه هلته به د کړاوونو او بدبختیو عوض وو ینی . رومیانو هلته ځینې افسانوی ارباب الانواع تصور کول لکه مرکیوری — وینوس (زهره) مارس

(مریخ) سا تورن اوژو پیتر . خو افسوس چه ساینس وښوده چه دغه ارباب الانواع د انسانانو د تخیل له مخلوق نه پرته بل څه نه وو .

هیڅ مصنوعی سپوږمۍ - لو نیکونه او فضائی بیړۍ چه له ځمکې - سپوږمۍ اولمر څخه څو څو ځله راتاو شوې دی له داسې شی سره مخامخ شوی نه دی . په دې کښې شك نشته چه په دغو کیهانی فواصلو کښې د ژوند تصور مشکل دی ، او په دې څوك نشی پوهیدلی چه په فلکی اجسامو کښې ژوند موجود دی او یا یې د موجودیت امکانات شته . په باندنۍ فضا کښې د بیلکا - ستریلکا (او ګاګارین - مترجم) ژوند ساینس تامین کاوه . دوی باندنۍ فضاته په موفقیت سره سفر وکړ او روغ رمټ بیرته راغلل .

ایا ځمکه به د خلکو د پاره تنګه شی ؟؟

کوم شی چه امپریالستان ورته اړدی هغه دادی چه خپله ایډیالوجی حقیقی وبریښوی نوی مالتوسینزم (NEO - MALTHUSIANISM) دغه کارته ملا تړلې - په (۱۷۹۸ ع) کال کښې یو انګلیس اقتصادپوه (تاماس مالتوس) پوه نظریه وړاندې کړه . دی وایی :

« د نړۍ وکړی په هندسی تصاعد زیاتیږی او په هرو ۲۵ کلو کښې دو چنده کیږی - په داسې حال کښې چه د ژوند انه وسایل په عددی تصاعد زیادت مومی »

(مالتو) په خپله یو کشیش و . له دغې نظریې څخه یې دا بی بنیاده او له حقیقت نه لرې نتیجه واخیسته چه اجتماعی تغییرات نه شی کولی چه د غریبانو مقدرات اصلاح کړی - ددې مسألې د اصلاح یواځنۍ لاره دا ده چه د نفوسو د زیاتیدو مخه ونیوله شی . د (مالتوس) پیروانو دغه تیورۍ د کارګرو د استثمار او د تخریبی جګړو د تحقق په غرض استعمال کړه .

د (مالتوس) پیروان په دې عقیده وو چه جګړه او د کارګرو استثمار دواړه له دې سره مرسته کوی چه نړۍ له ما زادو اوسیدونکو څخه پاکه کړی ، او کله چه د متجاوز د پاره جګړې ته اقدام خطرناك شی نو د (مالتوس) نظریات غواړی چه استعمار نورو ستورو ته نقل کړی او هغوی هم پرې ککړ کړی . خوا یا دا رښتیا ده چه زموږ په کره کښې به دو ګړو شمیر له حده زیات شی ؟ ؟

داسوال مهم دی . تیر کال د نړۍ دو ګړو شمیر نژدې درې زره میلیونو (۳۰۰۰ میلیونو) ته رسیدلی وو ، چه هر کلیو متر مربع ته نژدې ۲۲ تنه رسیدل . البته دا دومره زیات نه دی . خوکه چیرې موږ د (مالتوس) تیورۍ و منو چه د نړۍ دو ګړو شمیر په ۲۵ کلو کښې یو په دوره کیږی - نو باید چه د (۵۰۰) کلو په موده کښې یو میلیون

وارزیات شوی وای او په دې حساب اوس باید د نړۍ په هر متر مربع کښې ۲۲ تنو ژوند کولای او خلك لکه ماهیان جیل شوی وای.

د بې وسلو مخالفان چه د (مالتوس[1]) تیورۍ استعمالوی اوهغې ته د طبیعت ابدی قانون وایی باید داسې استدلال وکړی.

«مترقی کسان چه اوس بې وسلې نړۍ او په سوله کښې ژوند کول غواړی په خپله به یوه ورځ د نفوسو له زیاتیدو څخه په عذاب شی، یا به د نفوسو په ډله ییز ډول په عصری وسلو سره وژلو ته اړشی او یا به اضافه ګی خلك نورو ستورو لکه مریخ او زهرې ته نقل کړی.» ایا دا عقیده چټی ده؟؟ هو! چټی او مزخرفه ده چه قول استدلال په دې سفسطې ولاړ دی چه وایی: «وګړی په هندسی تصاعد زیاتیږی.»

دوګړو د زیاتید و قوانین په واقع کښې نه ابدی دی او نه غیر قابل تغییر. هر اجتماعی شکل خپل ځانګړی قوانین لری چه دنفوسو په زیاتیدو اغیزه کوی. په ځینو هیوادو کښې وګړی نسبت نورو ته ډیر زیاتیږی. په ډیرو غیر سوسیالستی هیوادو کښې دوګړود زیاتید و اندازه نسبت سوسیالستی هیوادو ته ښایسته لږ ده. څومره چه سوسیالیزم وده وکړی دوګړو شمیر به په هماغه اندازه په سوسیالسټ هیوادو کښې نظر نو روته زیات شی. په مختلفو اقتصادی او اجتماعی شرایطو کښې هر څه دوفیا تو او تولداتو به تناسب اړه لری. د تولداتو اندازه نسبت اقتصادی قوانینو ته تر زیاتې اندازې دبیولوژی د قوانینو تابع ده، اوله همدې کبله دیر مستقر عنصر بلل کیږی. له بلې خوا دوفیا تو اندازه متحوله ده او تر یوې اندازې په اقتصادی شرایطو پورې اړه لری او بې نهایت غیرمستقر عنصر دی. په عین حال کښې موږ لاتر اوسه د بیالوجی عمر په دوره کښې نه یو نتو تی.

ددې ادعا زیات مثالونه شته چه د وفیاتو اندازه په اقتصادی شرایطو پورې اړه لری. دانګلستان په کامنولتې کښې به لوی هند په نظر کښې ونیسو. هندوستان د ډیرو کلو دپاره دانګلستان په لاس کښې و. د برتانویانو په غذا کښې (۳۲۹۰) کالوری موجودې وې او دهر یو دپاره په متوسطه ډول (۷۰) کاله عمر حساب شوی دی.

دارقم په هندوستان کښې (۱۸۹۰) کالوری دی او دعمر متوسطه اندازه ۳۲ ته رسیږی. که د روسیی مثال راواخلو نو وینو چه له انقلاب نه پخوا ورځو کښې هغه وخت چه د روسیی خلك نیم ژواندی وو د عمر متوسطه اندازه دهندوستان په شان ۳۲ کاله وه. خو ترانقلابه وروسته چه د ژوندانه سویه زرزروچته شوه دعمر برابره اندازه هم ورسره ډیره اوزدیدله

او په ۱۹۵۸ کښې (٦۸) کلوته ورسیده . په ۱۹۱۳ع کښې دوفیاتواندازه په (۱۰۰۰) کښې (۲ر۳۰) وه او په ۱۹۵۸ع کال کښې دغه اندازه په زرو کښې (۲ر۷) راقیمه شوه .

په دومره لنډه موده کښې دنفوس په ډینامیزم کښې تردې اندازې زیات تغییرات ددې حقیقت ثبوت دې چه دو ګروو زیاتیدل او وده نه خو د ابدی طبیعی قوانینو نتیجه ده او نه دتیوری ایستونکو د مجردو فارمولو زېږنده بلکه دنفوسودزیاتید و مهم علت عبارت له مثبتو او مضبوطو اقتصادی عواملو څخه دی .

د (مالتوس) د تیوری په مقابل کښې یو پخوانی او درو ند دلیل دادی چه دهغه دتیوری په عکس دژوندانه او معیشت وسایل نظر نفوسو ته په ډیره چټکی سره زیاتیږی او له همدې امله دو ګرو دزیاتیدو په لار کښې خنډ کیدای نه شی.

داشی په ډیره اسانی سره په عدد او رقم هم ښودلی شو. په (۱۸۰۰) کښې هغه وخت چه (مالتوس) ژوندی ودبرطانیی نفوس (۲ر۱٦) میلیونه وو. که چیرې د انګلستا ن د و ګرو زیاتیدل د مالتوس منحنی طی کړی وای ، باید په ۱۹۵۰ع کښې د هغه هیواد د و ګروشمیر (۱۰۰۰) میلیونه ته رسیدلی وای. په داسې حال کښې چه اوس (۵۰) میلیونه دی. او په ۱۹۵۰ ع کښې د انګلستان د سړی په سر عاید ات او شتمنی نظر ۱۸۰۰ کال ته څو څو ځله زیاته شوې ده

څوك به داووایی چه (مالتوس) یوا ځی په ارقامو کښې غلطی کړی ده مګر دهغه عمومی مفکوره صحیح ده. نو ایا دنړی نفوس په پنځوسو یا سلو کلو کښې یو په دوه کیږی؟؟ نه داسې نه ده. که چیرې دنړی و ګړی دهند سی تصاعد له مخی زیا تید لې اوس باید په نړی کښې چاته ددریدو ځای هم نه وای پاته شوی . که چیری دارښتیا وای نو په هغه وخت کښې به دباندنی فضا داستعمارفکرصحیح واویاخو باید دنفوسودکنټرول دپا ره د(ما لتوس) میتودونه په کاراچولی شوی وای .

خودنفوسو زیاتوا لی نه یوا ځی دعد د ی تصاعد له مخی کیږی بلکه د(مالتوس) پیروان نشی کولی چه دانکشافاتو واقعی اواسا سی استقا مت وو ینی . مار کس د (کپیتا لزم) په منا سبت دا سې وایې :

« دتولداتواووفیاتوشمیرد اجورې له لوړوالی سره، او په نتیجه کښې دژوندانه له وسایلوسره چه د کار ګرو بیلې بیلې کته ګورې تری کار اخلی معکوس تناسب اری.» داخر ګنده خبره ده چه اقتصادیات په بیالوجی او فزیولوجی باندې خپل قوانین تحمیلوی. که چیری کارفرمایان دکار ګرې طبقې له ژوند سره څه علاقه اری اوددې طبقی له « زیات تهدید » څخه په ویره کښې وی، باید د کار ګرومعاش وخت په وخت پرله پسی زیات کړی خوداهغه شی دی چه دوی یې نه غواړې . په حقیقت کښې دوی له نسبتی زیات نفوس (OVERPOPULATION) سره مخالفت نه لری ځکه چه دنفوس زیاتوالی ددوی دپاره د کارګرانو یوه ښه احتیاطی قوه برابروی. اوس به په مترقی ټولنو کښې دنفوسودزیاتیدو

مسأله ترڅېړنې لاندې ونیسو. په یوې ټولنه کښې چه دو ګړو دژوندانه مادي او معنوي سویه پرله پسې لوړیږي - د اقتصادي بحرانونو او بې کاري مسایل په کښې حل شوي وي، د کار ورځې لنډې وي او بالاخره په یوې ټولنې کښې چه د عامه خیر خوښونې سرویس ډېر منظم وي ښه ډوډۍ، ښه روزنه، صحي خدمات یا مفت او یا خو په ډېره ټیټه بیه وي نو ارو مرو به دغه شیان د وفیاتو او تولداتو په تناسب ګټوره اغیزه لري. په مترقي یعنی سوشلستي ټولنې کښې به د وفیاتو اندازه ټیټیږي او د تولداتو اندازه تر یوې اندازې زیاتیږي.

رښتیا! که چیرې په ټول نفوس باندې د تولداتو اندازه چه د عمر اوږدوالی او د غیر مولدو ګړو بونو زیاتوالی ورسره په نظر کښې وي وویشله شي- نو وبه لیدل شي چه د تولداتو اندازه تنزل کوي. که څه هم د ښځو د بارداري اندازه ثابته پاته شي.

راځئ چه داشي د شوروي اتحاد په برخه کښې په ارقامو وګورو:

	کال ۱۸۹۷	کال ۱۹۷٦	کال ۱۹۳۹	کال ۱۹۵۹
نفوس (په ملیون)	۱۲٦ر٦	۱٤۷	۱۹۰ر۷	۲۰۸ر۸
ښځې چه د ۱۵-٤٤ کلوتر منځ وي (په ملیون)	۲۷ر۹	۳۵ر۳	٤۰ر۰	۵۲
د تولداتو کلنی اندازه (په ملیون)	٦ر۲	٦ر٤	۵ر۹	۵ر۲
په (۱۰۰۰) تنو کښې د تولداتو اندازه (په ملیون)	٤۹ر٤	٤۳ر٦	۳۱ر۳	۲۵
د وفیاتو اندازه په (۱۰۰۰) تنو کښې (په ملیون)	۳۲ر٤	۲۰ر۳	۱۷ر۳	۷ر٦
په (۱۰۰) تنو کښې د تولداتو وړ ښځې چه د ۱۵ - ٤٤ کلوتر منځ وي (په ملیون)	۲۲	۱۸	۱۵	۱۰

(۱۰)

په د غوکلونو کښې به شوروي کښې د ژوند سویه نظر نفوس ته او نظر هر اوید بخ هیوادوته په ډېره چټکۍ لوړه شوه. برسیره په دې د ودید ونکو ښځو شمیر (۱۵-٤٤) کلو ترمنځ نظر عمومي نفوس ته په ډېر سرعت سره زیات شو. خو د تولداتو مطلقه اندازه له ۱۹۲٦ ع نه راپه دې خوا لږه شوي او تنزل یې کړی دی. او په هر (۱۰۰۰) تنو کښې د تولد اتواند ازه تقریباً نیمایي ته راټیټه شوه. ښه! اوس نو موږ د نفوسو د زیاتوالي اندازه څنګه تشریح کړو؟؟

د دې کار علت اساساً د وفیاتو د اندازې په زیات کموالي کښې دی چه به ٦۲ کلنۍ نه پورته ۳ر٤ واري ولویده که چیرې دغه رقم به تزارې روسیې کښې عین شي پاته شوی وای له ۱۹۳۹ ع کال نه راپه دې خوا به د نفوسو کموالي شروع

شوی وو. خو مره چه د وفیاتو اندازه کمیده طبیعی ده چه ورسره به د عمر وسطی اندازه زیاتیدله به ۱۸۹۷ع کال کښې وسطی عمر ۳۲ کاله وا وپه ۱۹۲٦ع کال کښې ٤٤ کاله شوا و په ۱۹۵۸ع کال د یو تن شوروی انسان وسطی عمر ٦۸ کلو ته ورسید. دغه شی دو ګړو د زیاتیدو نمونه بدله کړه. د لویانو شمیر زیات شوا و د کوچنیانو شمیر (چه عمر یی ۱۵ کلنی ته ورسیږی) لږ شو.

په شوروی اتحاد کښې هیڅوك د تولد اتو له زیاتوالی څخه شکایت نه کوی، او نه پرې اعتراض لری بلکه لاخلك تشویقیږی چه د تولداتو شمیر زیات کړی - حکومت د داسې میندو د پاره چه زیات اولاد ونه زیږوی ده قهرمانې مور » اعزازی القاب تا کلی دی او لو یو کورنیو ته نقدی مرستې ور کوی. مګر دومره باید پوه شو چه د ژوندانه مادی او ثقافتی لوړه سویه د تولداتو اندازه کموی نه د اچه زیاتوی یې.

کوم وخت چه موږ هغه عوامل تجزیه کوو چه د تولداتو په اندازه اغیزه کوی باید د ټولنې د عمر ساختمان ته هم خاصه پاملرنه وکړو. البته چه په لویانو او زړو خلکو کښې د وفیاتو اندازه زیاته ده: په ۱۹۵۸ع کال کښې د (۱۰-۱٤) کلو د عمر خاوندانو کښې په هر وزر و تنو کښې د وفیاتو اندازه (۸ر۰) تنه وو. او په ۷۰ کلنو او تر هغه پورته خلکو کښې (٤ر٦۲) وه چه په بل عبارت (۸۷) څله زیاته وه.

له بلې خوا د تولداتو اندازه د عمر له زیاتیدو سره کمیږی: مثلاً په ۱۹۳۳ع کال کښې په هغو کسانو کښې چه ازدواج یی کړی وو او عمر یې (۲۰-۲۵) کلو پورې رسیده د تولداتو اندازه په (۱۰۰۰) تنو کښې ۲۹-وه او په هغو کسانو کښې چه عمر یې د (٤۰-٤٤) کلو ترمنځ وو د تولداتو اندازه (۷و۷) یا څه نه څه څلور څله لږه وه.

په پای کښې څو مره چه د ژوندانه سویه لوړیږی د وفیاتو اندازه کمیږی او د زیات عمر ګروپونو کښې د میندو شمیر ډیریږی. خو دلته یو بل عامل هم شته: د وسطی عمر اندازه زیاته ده او ورسره، په هر و (۱۰۰۰) تنو کښې د تولداتو اندازه لږه ده. خو البته چه دغه ټول تغییرات طبیعی حدودلری. که چیرې د وفیاتو اندازه کمیږی له موږ څخه هیڅ یو د فنا نا پذیری دعوانه شی کولی.

طبیعی وده

د عمر اوږدوالی یو طبیعی حد هم لری. فزیولوجستان په دې باب هیڅ نظریات نلری. د دې نتیجې ته رسیدلی چه که چیرې یو انسان په داسې حال کښې چه خپل ټول ذهنی ملکات یې په ځای وی او هیڅ ډول ناروغی او زیان ورسیدلی نه وی پرته له کوم تشویش او ویرې مړشی، د ده مرګ به داسې وی لکه چه یو سړی ښه ستومانه شی او بیا ویده شی.

نامتو فزیولوجسټ ښاغلی (ایلیامچنیکوف) دیوې بودۍ پېښه داسې ثبتوی: «یوې ۹۳ کلنې ښځې له خپل کوچنی لمسی څخه یو ګیلاس او به وغوښتې. کله چه هغه او به په لاس ور کړې داسې یې ورته وویل- ستاله دې وروستی خدمت څخه تشکر کوم. که چیری ته زما دعمر په اندازه ژوندی پاتې شی، دا به درته معلومه شی چه مرګ به هم د خوب په شان یو طبیعی ضرورت شی. یو ساعت وروسته هغه ښځه مړه شوه.»

ځینې ساینس پوهان لکه (بوفن او فلورنیس) دطبیعی عمر موده (۱۰۰) کاله ټاکی- ځینې نور لکه (بوګومولتز) یی (۱۵۰) کاله تخمینوی حتی (هالر) او (هیوفلانډ) دطبیعی عمر حد (۲۰۰) کاله اټکلوی. خو ډیر لږ خلك دغه عمر ته رسیږی. ډیر مرګونه دناروغیو ستړیا او لوږې له کبله وی.

دعمر داوږدوالی په هکله د پورتنیو دریو فرضیو له جملې څخه د (۲۰۰) کلو عمر ډیر پیچلی او ګران ښکاریږی. داسې لیدل شوی دی چه یو سړی دی (۱۸۵) کلو او حتی (۱۹۶) کلو ته رسیدلی دی مګر د (۱۵۰) کالو عمر تر زیاتې اندازی واقعیت ته نژدې رقم دی. د ۱۹۵۹ ع کال په سرشماری کښې داڅرګنده شوه چه په ټول شوروی اتحاد کښې څه نه څه ۱۷ تنه لیدل شوی دی چه دغه عمر ته رسیدلی دی. دوی د (پوشکین) معاصروو. که چیرې موږ هغه شرایط په نظر کښې ونیسو چه دغه خلك په کښې زیږیدلی دی ددې پیشګویی ډیره اسانه ده چه هغه کسان داو سنی دور په موده کښې پیدا کیږی او دعمر داوږدوالی امکانات ورسره دی په ډیره اسانۍ سره دغه عمر ته رسیدلی شی. له نیکه مرغه چه د (پوشکین) له دغو معاصرو څخه ځینې خلك لا تراوسه ژوندی دی او کارکوی په هغو کښې یو د کلخوزبزګر (ښاغلی ایوازوف) دی چه په ۱۹۵۵ ع کال کښې ۱۴۸ کلن وا و دشوروی اتحاد دجماهیرو په زراعتی نندارتون کښې دسروزرو سترنشان ورکړشو. یو کال وروسته د کار دسرې جنډې نشان ورکړشو.

همداشان د ۱۹۵۹ ع کال له سرشماری څخه دامعلومه شوه چه په شوروی اتحاد کښې شل زره تنه له سلو کلو څخه زیات عمرلری. چه له دغې جملې څخه په (۱۰۰۰) کښې ۷ تنه (۱۰۰) کاله پخوا زیږیدلی وو. که چیرې دتیرې پیړۍ لوږې او جګړې په نظر کښې ونیول شی دا یو ښه تناسب دی.

خو ایا ۱۰۰ کاله دې اخری حد وګڼل شی؟؟ ایا انسان ۱۵۰ کاله د (ایوازوف) په شان فعال پاته کیدای شی او په اجتماعی چارو کښې دبرخې اخیستلو قدرت لرلی شی؟؟ زه فکر کوم چه هو، په هر صورت ۱۰۰ کاله هغه عمر نه دی چه وروسته تر هغه انسان د ژوند کولو ارزو له لاسه ورکړی او په طبیعی ډول دمرګ په انتظار وی. ایا موږ کولی شود نوې نظام تر سیوری لاندی ټول اجتماعی او نورې ناروغۍ له مینځه یوسو او طبیعی مرګ چه اوس

یو نادر استثنایی شی دی یو عمومی قانون کړو؟؟؟

دلته هم ځواب هودی - ددغې کار د پاره پاید یوازې دشوروی جماهیرو داتحادد وفیاتو اندازه وڅیړو :

کال	وفیات (په ملیون)	په سلو کښې
۱۹۱۳	٤ر۸۱	۱۰۰
۱۹٤۰	۳ر٤٥	۷۲ ر۲
۱۹٦۰	۱ر٥٦	۳۲ ر٤

دنفوسو زیاتوالی دمرګو نوله کموالی سره ملګری دی - هم به مطلق ډول او هم په ۱۰۰۰ کښې لکه چه له پورتنی جدول څخه د ا حقیقت ښه معلو میږ ی.

دنو یوسرحداتو په داخل کښې د شوروی اتحادنفوس چه په ۱۹۱۳ ع کال کښې (۱۵۹ر۲) ملیون وو په ۱۹٦۰ کال کښې (۲۱٤ر٤) ملیونوته ورسید .په بل عبارت په سلو کښې ۳۵ز یاتوالی راغی.دمرګ اند ا زه په همد غو (٤۷) کلو کښې (۳ر۲٥) ملیونه تنه کمه شوه - په بل عبار ته سلو کښې ٦۷ر٦ لبزه شوه .

په تیرو ۲۰ کلونو کښې مرګ ۱ر۸۹ ملیون یاله نیمایی څخه زیات لبز شوی دی . که چیرې همدغه رقم ثابت پاته شی او په هرو ۲۰ کلو نو کښې د مرګ ا حصا ئیه ترنیما یی لبز ه شی نو بیا به موږ و کولای شو چه دنارو غیومرګونه په ډیرلبز وخت کښې بالکل له مینځه یو سو: که دمرګ د کمیدو سرعت دغومره نه وی هم خودا سمه ده چه ورو ورو به عمر طبیعی حد او هم د تولد ا تو ا ند ا ز ه یو مناسب حدته ورسیږی .

دغه عملیه یو ا ز ې منطقی د ه ځکه چه د ودیدوو ړ ښځو تناسب کمیږی او ورسره د زیات عمرخا وند ه د له چه دوفیاتو شمیر په کښې ډیرزیات دی په تدریجی ډول زیاتیږی. څه وخت چه ټول شرایط مساوی وی د تولداتو اند ا زه یعنی په هرو (۱۰۰۰) تنو کښې به د تولداتو شمیر لبز شی اود وفیاتو اندازه به زیاته شی. داصحیح ده چه په سوسیالستی هیوادو کښې به داهڅه وشی چه دوفیا تو اندازه لبزه شی او په دې لاره کښې به له ټو اوعصری تسهیلاتو څخه کار وا خیستل شی،خودغه تدابیر به دزړو ګروپونو شمیرزیات کړی یعنی هغه ګروپونه به زیات شی چه په هغو کښې دوفیاتو شمیر زیات وی. په همد غه سبب که هر څومره دوفیاتو شمیرلبزشی خو بیابه هم د وفیا تو اندازه نسبت تولداتو ته زیا ته و ی او په پای کښې به ددواړو تر منځ یوه موا ز نه ټینګه شی.



داعملیه په یوه ګراف کښې چه وګړی یې دعمر او جنس په لحاظ تضیف کړی دی ښو دل شوې ده. دا ګراف ددې عقیدې په اساس ترتیب شوی دی چه هره مور به لږ تر لږ درې اولاده زیږ وی خود هغو له جملې څخه به دوه اولاده داولاد زیږ ونې دعمر سرحدته رسیږی. خو په هغه صورت کښې به هم د اولاد زیږ ونی وړیو مستقر ګروپ موجود وی او ورسره به دتولداتو اندازه سره له دې چه دوفیاتو د کمو لو په نسبت به نفوس په دوامدار صورت زیاتیږی ثابته پاته شی. زموږ په نقشې کښې دعمر وسطی اندازه (۷۵) کاله تخمین شوی ده او دعمر اعظمی حد (۱۵۰) کاله اتکل شوی دی. داله احتمالاتو څخه لږ نه ده چه سا ینس به دغه رقم ته هم تغییر ور کړی. او دې کښې شك نشته چه دتولنې انکشافاتو سره به دغه رقم هم تغییر ومومی له دې نقشې څخه دا څرګندیږی چه تولد او وفات دمساوی کیدو خوا ته سره نژدې کیږی.

له همدې سببه دغه نقشه یوازې دعمر اعظمی اوږ دوالی ته رسیدل ښیی. دغه نقشه هغه وضعیت په دقت سره څرګندوی کله چه په سلو کښې (٦۰) مرګونه (۳٫۰۰۰٫۰۰۰) په ۱۵۰ کلنی او په سلو کښې ٤۰ (۲٫۰۰۰٫۰۰۰) مرګونه نسبتاً پخوا واقع کیږی (په نورو حدودو کښې ښودل شوی دی). که دقول نفوس په تناسب وسنجول شی هغه مرګونه چه له ۱۰۰ کلنی نه پخوا واقع کیږی په (۱۰۰۰) کښې له ۵ څخه نه زیاتیږی. او که چیرې دعمر اوږدوالی ۱۵۰ کاله وته ورسیږی په سلو کښې له ٤ څخه نه زیاتیږی. په هر صورت د مرګ مجموعی احصائیه پنځه میلیونه یا دتولداتو له انداز سره مساوی تخمین شوې ده

خودا باید هیره نکړو چه دعمر اعظمی اوږد والی (۲۰۰) کلو ته هم رسیږی. خو دغه اندازه به دهغه جریان او تمایل مانع نه شی، چه دتولداتو داندازې د کمو لو دپاره پیدا شوې ده

اوغواړی چه تو لد ات اووفیات په یوه اندازه کړی. خود زمان عامل به تغییر ومومی اوموږ ددې پیش بینی کولی شوچه داتغییر به څنګه وی- هغه وخت چه انسان تر ۲۰۰ کلنی پورې ژوندی پاته شی ...

په شوروی اتحاد کښې دتو لد اتو اندازه پنځو ملیونو ته چه د تو ل نفو س په سلو کښې (۲۵) کیږ ی رسیدلې ده. دغه رقم دتولو قابل ازدواج ښځو په سلو کښې ۱۰ کیږ ی او په متوسط ډ ول هر ې کو رنۍ ته د ر ې طفله و ررسیږی .

که چیرې مړینه نه وای نو په یوه کال کښې به پنځه ملیونه نفو س زیاتیدای او په ۱٦۰ کلو کښې به نفوس پنځه برابره زیات شوی وای. که موږ دعمر اعظمی اوږ دوالی ۲۰۰ کاله قبول کړو دتولداتو اندازه به په سلو کښې له ۲۵ څخه ۱۵ ته سقوط و کړی . که چیرې موږ دعمر اعظمی اوږدوالی (۲۰۰) کاله ومنوحتی په هغه صورت کښې به په یوه کال کښې د مر ګو نو شمیر پنځوملیو نوته ورسیږی . ځکه چه که له دغې اندازې څخه ز یات شی معلو میږ ی چه د عمر اوږدوالی له ۲۰۰ کلو څخه لږدی . او که چیری له دغه رقم څخه لږ کیږی نو دعمرد اوږ دوالی اندازه باید ورسره زیاته وی .

داخر ګنده خبره ده چه ډ یر کلو نه لازم دی چه ژوندا و مر ګ خپل آخری حدته ورسیږ ی .

دغه عملیه په تقریبی ډول په لاند ینی جدول کښې ښود ل شوې ده :

د عمرا ند ا ز ه	٦۸	۱۰۰	۱۵۰	۲۰۰	
د و د ې کلو نه	۰	۲۸	۷۵	۲۷۵	
نفوس (ملیون)	۲۰۰	۳۰۰	٤۰۰	۸۰۰	
نفوس (په سلو کښې)	۱۰۰	۱۵۰	۲۲۰	٤۰۰	
دتو لد اتو اند ا ز ه	۲۵-۷ و ۱٦-٤	۱۱	۵		
د و فیا تو ا ند ا ز ه	۷-۳ ر ٦-٦ ر ۵	۵			

خالص زیاتوالی په (۱۰۰۰) کښې ۱۸-٤ ر ۱۰-۸ ر ۵

دنفوسودعمردرې چنده زیاتوالی د نفوسوله متعادل ز یا توالی سره سمون خو ری ـ مګر دا په زیا ته اند ا زه دلویانود ګروپ دعمر په زیاتیدو تمامیږی ـ دا کار په خپل و اردتولیداتو اووفیاتو نزول تعینوی خودوفیاتو اندازه داسې ورو ورو نزل کوی تر څو چه په پا ی کښې دنفوسوطبیعی وده دصفردرجې ته تقرب و کړی.

پورتنی جدول هم دا ښیی چه څه نه څه ۷۵ کاله لازم دی چه په شوروی اتحاد کښې دعمرمتوسطه موده ۱۵۰ کلوته ورسوله شی خو ۲۰۰ کلو ته رسول به بې کم له کمه (۲۷۵) کاله و غواړی کله چه د عمر متو سطه موده (۲۰۰) کلو ته ورسیږی نفوس به ثابت شکل غوره کړی او دنفو سوکثافت به لکه چه (مالتوس) یې وایی یو میلیون چند نه زیاتیږ ی بلکه ۵ یا ٤ چنده به زیاتشی به بل عبارت در (مالتوس) قولې بیش ګوی به غلطې ثابتې شی او ده نجات ، هغه مهلکې لارې

چه هغه دنفوسود کمولو دپاره سنجولی وی له خلکو نه به هیری شی. موږ به هیڅکله مجبور نه یوچه دا ضافه ګی و ګړو دپاره په متجاوزانه جګړو لاس پورې کړو. او نه به ددې ضرورت وی چه دځمکی و ګړی نوروستورو ته ولیږ دووه دابه ښه وی چه په دې پوه شو چه په دباندنی فضا کښې به موږ دمیلمنو حیثیت لرو چه یا به موښه هر کلی کیږی او یا بد. په دې ځمکه باندې موږ په خپل کور کښې یو او هیڅ ځای به موږ ته دومره ګران نه وی لکه خپل کور.

په دې صورت د (مالتوس) نظریه له هره حیثه قابل ردده ښایی دده داعقیده چه دژوندانه و سایل په حسابی تصاعد زیاتیږی او نفوس په هند سی تصاعد، په فیوډالی ټولنه کښې د تطبیق وړوی. دسرمایه داری له تجربو څخه معلومیږی چه دژوندانه وسایل په هند سی تصاعد زیاتیږی اودسوسیالزم له تجربو څخه دا ثابته شوې ده چه دژوندانه وسایل تردې لاهم په زیاته چټکی زیاتیږی. همدغه شان دده دعقیدی دا برخه هم غلطه ده چه وایی نفوس په هند سي تصاعد سره زیاتیږی. ځکه چه په تیوری او په بین المللی عمل کښې دا ثابته شوې ده چه دو ګړو زیاتیدل سست شوی دی. دامونږ ته په خپل ذات کښې یو براخ نظر ګاه دی. هغه وخت چه دنفوسود زیاتیدو په لاره کښې ټول اقتصادی او اجتماعی خنډونه لرې شی دو ګړو زیاتیدل به د بیولوژیکی او فزیولوژیکی قوانینو له خوا کنټرولیږی او ورو ورو به لږ شی. هغه وخت چه د عمر موده خپل طبیعی حد ته ورسیږی نفوس به ثابت پاته شی. داوه په یوې شرقی ټولنه کښې دنفوسود زیاتیدو په باب زمونږ نظریه. هیڅ دلیل نشته چه بشریت دې دنفوسو له زیاتیدو څخه وویریږی. یو اخینی پرابلم به دهغوی دائمی کیفی زیاتیدل او تکامل وی او دغه انکشاف ته حد او پایان نشته اولا یتناهی دی. (پای)

پوهنیار محمد رحیم الهام

ګرامر

نحو

۱. د ګرامر ځانګړې:

ګرامر غالباً په درو برخو وېشل کیږي: لومړی برخې ته د ژبې دصوتي واحد وعلم (فونالوجي یافونیمکس)، دویمې برخې ته یې صرف (دلفظي واحدونوعلم یامورفیمکس) او دریمې برخې ته یې نحو وایي. نحوی ساختمانونه اوترکیبونه دترتیب اوسمون داسې اصول اوضوابط لري چه داشتقاق او تصریف دطریقو اوپولونو تابع وي. دغه ساختمانونه غالباً اوږده وي او تشکیلوونکي عنصرونه یې په مختلفو طریقو په کښې استعمالیږي. «نحو» ددغه ډول ساختمانو دترتیب اوتنظیم قواعد و اواصولو ته وایي. دصرف اونحوې بېلول په اکثرو موارد و کښې ګران وي. دځینو ژبو په نحوي څېړنو کښې و ړاندینی تعریف ګټور بریښي. خو په ځینو نورو ژبو کښې دغه تعریف دتطبیق امکان نه لري. نو ځکه دنړۍ په زیاترو ژبو کښې نحوی او صرفي موضوع ګانې سره تړلې اونغښتلې وي او څوک یې سره بېلولې نشي. خو بیاهم، ژبپوهانو داسې قواعد اوضوابط راغونډ کړي دي چه د زیاترو ژبو په نحوي څېړنو کښې تطبیقېدای شي.

۲. دنحوی څېړنې تطبیقي صورت:

دنحوی څېړنو اساسي او اصلي موضوع او ددغې موضوع دڅېړنې ډول اوطریقه دمثال په راوړلو په ښه توګه څرګندېدای شي. نوموړهم دلته دپښتو یو لیکلی مثال راوړو. په لومړي سر کښې ددغه مثال لیکلی صورت راسپړو؛ اوله ځینو داسې حقایقو څخه چه په املا اولیک کښې یې څرګندولی نه شو (لکه: خج، آهنګ اونور) ستر ګې پټوو.

۳. دغه لاندینی مثال وګورئ:

هغه زوړ سړی چه دلته اوسی خپل زوی کره تللی دی. په بدیهی توګه پوهیږو چه پاسنی عبارت له یو ولسو برخو څخه روغ شوی دی. لومړی به داخبره ومنو چه ددې عبارت هره برخه تشریح کېدونکی اړیکی سره لری نو که د دغو برخو اړیکی په ښه ډول وڅېړو، ددې عبارت نحوی اړخ به مو څېړلی وی.

ددغو څېړنو به ضمن کښې به را ته څرګنده شی چه دعبارت داجزاوو داړیکی ماهیت دوه په دوه سره تړلی دی. مثلاً زموږ به دغه بورتنی مثال کښې «زوړ» او «سړی» داسې واضح اونیغ په نیغ اړیکی سره لری چه څه ناڅه په اسانۍ

سره تشریح کېد ای شی. حال دا چه « کور» او« زوړ » دغه ډول څرګند ا وسیخ اړیکی نه سره لری . که څوك دا سې کوم اعتراض وکړی چه د«زوړ»ا و«سړی» دغه سیخ تړون او اړیکی په دغه عبارت کښې دهغو دنژدیکت له امله دی ؛ او«زوړ » او« کور» سره لری راغلی دی . په دې خبره کښې یو څه حقیقت پروت دی خو اصلی علت نه شی ګڼل کید ای؛ اودا ځکه چه «سړی» او «د لته » دوقوع پـه لحاظ پوره نژدیوالی سره لری خو نژدې اړیکی نه سره لری ا و «سړی» له « دی » څخه پوره لرې راغلی دی خوډېر نژدې اوسیخ تړون ور سره لری . له دې امله چه د کلمو جوړې داړیکو دنژدیوالی له کبله ډېر تو پیر سره لری نو د دغو مقابلو اړیکو څېړنه یقینی اوبا وری صورت نه شی لر لای اویو ګران کار به وی .

٤: په دغه لړ کښې زموږ دوهم کار دادی چه د کلمو هغه جوړې چه خور ازیات نژدې اړیکی سره ولری هغه ښه وپېژنو او کومه نښه پرې ولګوو . په دې کار کښې به داقانون جاری وساتو چه هره کلمه د دغه ډول جوړو د یوازینی فرد په حیث ومنو . نو نتیجه بـه یې داوی :

هغه زوړ سړی چه دلته اوسی خپل زوی کره تللی دی .



اوس به دا سې فرض کړو چه د کلمو دغه جوړې په عبارت کښې دواحد و اجزاوو حیثیت لری . ددې ګڼنې دلیل دادی چه هره جوړه په یو واحد لفظ بدلولی شو او که څه هم معنی یې بیا بدلیږی خو ساختمان به یې ډېر تو پیر ونه مومی ، لکه :

هغه	زوړ سړی	چه	دلته اوسی	خپل زوی	کره	تللی دی
هغه	ښځه	چه	تله	تورپیکۍ	کره	لاړه

٥: که دغـه فرضیه ثابته شی، نو لاندینۍ نتیجه هم ترې راا یستی شو :—

هغه زوړ سړی چه دلته اوسی خپل زوی کره تللی دی .



پاسنی صورتونه به دلاندنی عبارتو په شان وی :

هغه	زوړ	سړی	چه	دلته	اوسی	خپل	زوی	کره	تللی دی.
هغه	ږیرور		چه	ښوری		هغې		کره	ولاړ
هغه	ږیرور			په ځغاسته				کورته	ولاړ
هغه	ځغلېد و نکی					هلته			ولاړ
دی						ولاړ			

په پورتنی ډول سره زموږ دمثال دعبارت اجزا ورووروله یو ولسو څخه تردوو برخو پورې کم کړی شوی دی.

٦: که دغه پورتنۍ عملیه په معکوس ډول سره تجربه کړو همدغه یوه نتیجه ترې راخیژی. که له کوم پښتو، ویونکی څخه وغوښتل شی چه ددغه عبارت اساسی اجزا سره بېل کړی نو هغه به دغه لاندنی اساسی اجزا ووته ګوته ونیسی: «هغه زوړ سړی چه دلته اوسی» او «خپل زوی کره تللی دی» که بیا د هرې برخې دغه ډول تجزیه ترسره کړی شی، دغه عبارت صرف په دوو کلمو خلص کیږی.

(که په خپلې تجزیې کښې لاهم پسې مخکښې ولاړ شو په لا کمکیو برخو یې ویشلی شو لکه: تل - او - لی [تللی] خو د نحوې له حدودو څخه وصرف ته ور ګډشو)

د دې ډول تجزیې نتیجه به داسې وی:

هغه | زوړ | سړی || چه | دلته | اوسې | خپل | زوی | کره | تللی | دی

داتجزیه له تېرې پاسنۍ تجزیې سره پوره مطابق ده. په ځینو نورو عبارتو کښې به زموږ تجزیه عیناً مطابقه نه، بلکه مشابه نتیجه ولری.

۷ په دې باب کښې دزیاترو څېړنو داسانتیا دپاره باید دغه لاندینی اصلاحات تعریف کړی شی نحوی ساختمان (Construction): د مورفیمو یوې مشخصې ډلې ته وایی. زموږ په پاسنی مثال کښې ټول عبارت یو نحوی ساختمان دی. همدا رنګه «هغه زوړ سره چه دلته اوسی» یا «زوړ سړی هر یو یې» یو نحوی ساختمان تشکیلوی خو «زوړ خپل» نحوی ساختمان نه دی، ځکه چه دا دوه کلمې سیخ اړیکی نه سره لری «سړی» هم نحوی ساختمان نه دی، ځکه چه صرف یوه کلمه ده. په نحوی لحاظ «تللی» هم کوم ساختمان نه تشکیلوی، خو په صرفې اساس یې ځکه تشکیلوی چه دوه مورفیمه لری (تللی = تل - + - لی) تشکیلو ونکی جز (Constituent) :-

یو ه داسې کلمه، یا یو ساختمان (یا یو مور فیم) ته وایی چه په کوم اوزده ساختمان کښې د هغه د جزیه حیث شامل وی. زموږ په تېر مثال کښې هره کلمه یو تشکیلوونکی جزدی، خوه اوسی خپل «یا سړی چه» تشکیلوونکی اجزا نه دی. همدا رنګه زموږ د تېر مثال قول عبارت تشکیلوونکی جزنه دی، ځکه چه په کوم بل اوزده ساختمان کښې دهغه د تشکیلوونکی جزوظیفه نه لری

باید په خیال کښې دا خبره وساتلی شی چه قول تشکیلوونکی اجزا نحوی ساختمانونه نه دی. همدا رنګه قول نحوی ساختمانونه تشکیلوونکی اجزا دی خو بیخی ستر نحوی ساختمانونه تشکیلوونکی اجزا نه دی. ددې خبرې معنی داده چه که عبارت پخپله د کوم بل اوزده عبارت یوه برخه وی نو تشکیلوونکی جزورته ویلی شی؛ و که له کوچنیو اجزاو څخه ترکیب شوی وی ورته نحوی ساختمان ویلی شی.

بدیهی جز (Immedjate Conjtituent):-

د یوه نحوی ساختمان د دوو یا زیاترو تشکیلوونکو اجزاو څخه هغه جز ته وایی چه د غه ساختمان ورڅخه مستقیماً تشکیلیږی. د مثال په توګه «هغه زوړ سړی چه دلته اوسی» او «خپل زوی کره تللی دی» هر یو یې یو بدیهی جز دی «زوړ سړی» د «هغه زوړ سړی چه دلته اوسی» بدیهی جز دی خو «هغه سړی چه دلته اوسی خپل زوی کره تللی دی» بدیهی جز نه شی ګڼل کېدی دیوه نحوی ساختمان بدیهی اجزا هغه اجزا دی چه د تجزیی په دویمه مرحله کښې دا جز او و حیثیت ولری.

په دې ټولو کښې، بدیهی اجزا زیات اهمیت لری. د نحوی تجزیی لاره داده چه په ترتیب سره دا لاندنی حقایق وڅېړل شی.

بدیهی اجزا دې وموندل شی؛ بیا دې بدیهی نحوی ساختمانو نه کشف کړی شی؛ و روسته دې د بدیهی اجزاو داړیکو تشریح وشی؛ او په پای کښې دې د هغو روابطو او اړیکو پوره تشریح وشی چه د بدیهی اجزاوو په تشریح کښې نه واضح شوی نه وی.

دا وروستی مرحله د تېر و مرحلو د سمون او د رستوالی د کنټرول دپاره وی؛ او تر ټولو مهمه د بدیهی اجزاو داړیکو د کشفولو مرحله ده.

۸ : د نحوی ساختمان د بدیهی اجزاوو د موندلو اساسی طریقه د مثالو او نمونو بر مقایسې باندې ولاړه ده مثلاً که وغواړو «خپل زوی کره» بدیهی اجزاو څېړو دغه مثال بر مختلفو ډولو تجزیه کولای شو.



(له درې بدیهی اجزا ووسره)

زموږ مطلب دادی چه په پاسنیو مثالو کښې کوم یود غوره کولودی، ترڅو دهغه په اساس خپل هغه قانون تشکیل کړو چه په ټولو ځایو کښې د تطبیق وړوی که زموږ تر مطالعې لاندې مثال یوازې دوه اجزاولری، صرف په یوه توګه یې تجزیه کولی شو او کوم مشکلات به مومخکښې نه وی موجود. دلته زموږ د مثال «زوړسړی» دوه اجزالری. نو کېدای شی چه داسې یو دوه اجزایی ساختمان ومومو چه «له خپل زوی کره» سره په مستقیم ډول پرتله کېدونکی وی. داساختمان به داسې یو ساختمان وی چه «له خپل زوی کره» سره په یوه موقعیت کښې استعمال کېدونکی وی او په ټولو هغو جنبو کښې ورسره شریک وی چه د نحوی اړیکو په حیث ومنلی شی. دا ډول ساختمان به «زلمی کره» غوندې عبارتونه وی. نو دلومړی ساختمان «خپل زوی» د دویم ساختمان له «زلمی» سره مساوی وی. په دې حساب دغه دواړه ساختمانونه په دې ډول وېشلای شو.

خپل زوی	کره
زلمی	کره

په دې ډول څېړنو کښې باید یوازې په یوه مثال بسیاونه کړی شی؛ او بایده دی چه ډېر دغه راز مثالونه دې ولټول شی خو په پښتو کښې دغه ډول مثالونه ډېر دی او دا خبره ټولو ته څرګنده ده او اثبات نه غواړی.

۹: په دغه لړ کښې په لاندې ډول څه نورې مقایسې هم کېدونکی دی:

هغه زوړسړی چه دلته اوسی	خپل زوی کره	تللی دی
هغه زوړسړی چه دلته اوسی	پاس	تللی دی

که چېرې دغه مقایسه صحیح وی؛ له دې کبله چه «پاس» یو تشکیلوونکې جز دی نو «خپل زوی کره» به هم یو تشکیلوونکی جزوی.

۱۰: اوس دغه لاندینی مثال وګورئ څه شی لټوې؟

په دې مثال کښې «څه شی» او «لټوې» تشکیلوونکی اجزادی. که د دغو تشکیلونکو اجزاوو تنظیم او ترتیب ویجاړ کړی شی، لکه: لټوې څه شی؟ نو معنی ترې نه خېژی. د دې عبارت د معنا ویجاړېدل دهغه د اجزاوو د سمون او نظم د خرابولو له امله دی. نو د کلمو ترتیب د هرې ژبې د خورا مهمو نحوی علایمو څخه دی؛ او دا په عین حال کښې تر ټولو مغلق هم دی. په ټولو نحوی څېړنو کښې د کلمو ترتیب ته توجه په کارده؛ او له دېنه بغیر به نور نحوی تشریحات کره او صحیح نه وی او همدا رنګه د کلمو ترتیب هم تر څو چه د یوه نحوی ساختمان عمومی قرینې ته ښه پاملرنه ونه شی، څېړل کېدای نه شی.

۱۱: دوهم عالمی نحوی جز ته تشکیلوونکې ډله وایی: تشکیلوونکې ډلې د کلام له اجزاوو سره یو شان دی. تشکیلوونکې ډله د تشکیلوونکو اجزاو وهرې هغی ډلې ته وایی چه په عبارتو کښې د استعمال مشابه یا معادل ځایونه ولری

اوداد بوې ژبې د کلام د تصریفی اجزا او وپه اساس وی. مثلاً پښتو څلور ډوله تصریفی اجزالری اسم ،ضمیر، صفت اوفعل ،چه هر یو یې برسېره پرتصریفی خصوصیاتوځانته ځینی نحوی ممیزې هم لری نو ځکه هر یو یې دتشکیلوونکی ډلې د اساس په حیث ګڼل کیبزی. د پښتو صفتونه د خپلو خصوصیاتو په لحاظ داستعمال دغه لاندنی ځایونه لری :-

... سړی ...

ښه سړی ...

اوږد سړی ... او داسې نور.

نوټول هغه الفاظ چه په دغه موقعیت کښې استعمالیبزی په یوې تشکیلوونکې ډلې کښې شاملولی شو. دغه ټول لفظونه به د صفاتو له ډلې څخه وی چه اروپائی پوهان ورته (adjectiva) وایی او موږ ورته صفتی لفظونه وایو. په صفتی ډلې کښې ټول صفتونه، غیر تصریفی صفت ماننده کلمی او هغه تر کیبونه چه یو جزیې صفتی لفظ وی شامیلیبزی، لکه :

زوړ سړی ...

ډیر ښه سړی ...

خورابدرنګه سړی ...

ډیر په زړه پورې هوښیار سړی... او داسی نور.

همدارنګه په « اسمی ډله» کښې ټول نومونه او د نومو معادل تر کیبونه شامیلیبزی ضمیری- ډله ټولې ضمیرې کلمې او له ضمیر وسره معادل تشکیلونکی اجزا احتوا کوی. په « فعلی ډله» کښې ټول فعلونه او هغه مختلف تر کیبونه چه د فعل د استعمال په موقعیت کښې را تلای شی شامیلیبزی. په پښتو کښې د ضمیرو نو نحوی وظیفه نژدې د نومو نو په شان ده. نو ځکه ضمیرونه د نومونو له ډولو نو څخه ګڼلای شو.

په اکثرو ژبو کښې غیر منصرف تشکیلوونکی اجزا هم شته، لکه د پښتو قیدی او اضافه بې ډلې. قیدی او اضافه بې ډلې کله کله مرکبې هم وی. د مختلفو ژبو نحوی ډلې که څه هم سره ورته وی خو زیاتره په جزئیاتو کښې سره توپیر لری.

۱۲: د پښتو په نحوی څېړنو کښې دې باید ځینی تر کیبی ډلې هم له نظره ونه غورځولې شی. دا ډلې غالباً له بسیطو تشکیلو ونکو ډلو سره توپیر لری چه ترټولو مهم بې اداتی فقرې دی. دا فقرې غالباً له اسم- ادات ه -ته- ادات یا قید ادات څخه تشکیلیبزی او ځکه مختلفت ډولونه لری، لکه: قیدی فقرې، صفتی فقرې او داسې نور. مثالونه یې دادی :

اسم-ادات : - دشپې (ادات له اسم څخه وړومبی)

شپې ته (ادات له اسم څخه وروسته)

ضمیر-ادات: -ماته (ادات له ضمیر څخه وروسته)

په ما (ادات له ضمیر څخه وړومبی)

قید-ادات په وړاندې (ادات له قید څخه وړومبی)

پاس ته (ادات له قید څخه وروسته)

صفت- ادات په ښه (ادات له صفت څخه وړومبی)

په عمومي طور سره پښتو داسې فقرې (ترکیبونه) لري چه له ادواتو او اسمي محور څخه تشکیل شوي او د دغو فقرو اسمي محور ضمیر یا اسم یا نور هر قسم اسمي ترکیبونه وي. ادات هم له اسم څخه وړومبي او هم ور څخه وروسته او هم د اسم په دواړو خواوو کښې راځي، لکه: دشپې؛ ماته، په مونږ کښې؛ ترمېز لاندې.

د ترکیبو ډلو یو بل ډول د فاعل - فعل (یا مبتدا - خبر) د جملو ډله ده. دا ډله داسې یو ساختمان لري چه بدیهي تشکیلوونکي اجزایې مبتدا او خبر وي «مبتدا» یې اسمي ډلې، ضمیري ډلې، د ترکیبو مختلت ډولونه یا ناقصې جملې وي. «خبر» یې فعلي ډله یا داسې مختلف اوږده ساختمانونه وي چه فعلي صورتونه په کښې راغلي وي. د پښتو د جملو مهمې ډلې دادي:

د فعل د جملو ډله، لکه: کیږي.

د فاعل - فعل د جملو ډله، لکه: زه راغلم.

د فاعل - مفعول - فعل د جملو ډله، لکه:

احمد محمود وواهه.

احمد فاطمه و وهله.

په دغو ډلو کښې هر جز یا بسیط وي یا مرکب، او ټولې د بدیهي تشکیلوونکو اجزاوو په اساس تجزیه کیدای شي.

۱۳: پښتو یو بل نحوي خصوصیت هم لري او هغه په اوږدو ساختمانو کښې، یعنې په جملو او فقرو کښې، د لحن او آهنګ ډولونه دي. د پښتو د جملو ډولونه د مختلفو آهنګو په واسطه یو پر بل بدلیږي، لکه:

/ زلمی راغیء /

/ زلمی راغیء ؟؟

د دغو دوو جملو ترتیب او بدیهي تشکیلوونکي اجزا بیخي سره مشابه دي خو آهنګونه یې تو پیر لري او ځکه لومړي خبریه او دوهم یې سوالیه جمله تشکیلوي. نو د نحوي تجزیې په اساس زموږ د مثالو نو هره جمله درې تشکیلوونکي برخې لري چه دوه برخې یې په رسم الخط کښې هم ښکاره کېدای شي، یعنې / زلمی / او / راغیء. خو دریمه برخه یې چه عروضي جنبه لري او په دغو دوو جملو کښې تو پیر هم لري په تلفظ کښې راځي او په رسم الخط کښې یې هم باید د تنقیط له نښو څخه استفاده وشي. د خبري آهنګ د پاره باید د جملې په پای کښې د ټکي [.] نښه او د سوالي آهنګ له پاره د پوښتنې له نښې [؟] څخه هرو مرو استفاده وشي. نو ښایي چه د پښتو په نحوي څېړنو کښې د آهنګ تشکیلوونکي جز چه مختلف ډولونه او مختلف قدرونه (معیارونه) لري وڅېړل شي. په عمومي طور سره د پښتو په جملو کښې درې اساسي آهنګونه موندلي شو چه د خبري آهنګ، د پوښتنې آهنګ او ندایي آهنګ ورته ویلي شو. په خبریه جملو او په استفهامي - لفظ لرونکو سوالیه جملو کښې پوره دروند خج و الاهجا

خورا جګ آهنګ لری چه کله منځنی [۲] او کله جګ [۳] وی ، خو متعاقبې هجا وې یې بیا کښته ترا [۱] آهنګ لری ، لکه :

هغه را غی ء . [۱ - ۱ - ۲ - ۱] د [را] هجا [۲] آهنګ لری . دا سړی څوك دی ؟ [ا - ۱ - ۱ - ۲ - ۱] ، یا [۱ - ۱ - ۱ - ۳ - ۲] یا [۱ - ۱ - ۲ - ۳ - ۲] ندایی جملې او اصوات (Interjections) له منځنی آهنګ [۲] او جګ آهنګ [۳] سره تلفظ کیږی . د دغه آهنګ د څرګندولو د پاره باید اعجابیه نخښه [!] و لیکله شی . لکه : ښځو ! [۲ - ۲ -] های های ! [۲ - ۲] . که د جملې په پای کښې ربطی صورت راغلی وی نو آهنګ د جملې و پای ته انتقال مومی ، لکه : نن جمعه ده ؟ [۱ - ۱ - ۳ - ۲] یا [۱ - ۱ - ۲ - ۲] یا د تعجب د ښکاره کولو د پاره : نن جمعه ده ! [۱ - ۱ - ۲ - ۳] . دا آهنګ د [نن جمعه ده .] له خبرې آهنګ سره [۱ - ۱ - ۲ - ۱] سره توپیر لری .

۱٤- د لحن نحوی جنبه : د نړۍ دا کثرو ژبو ، او همدا رنګه د پښتو نحوی څیړنې تراوسه پورې تکمیل شوې نه دی . او دا ځکه چه لا تر اوسه څیړونکی ژبه د رسم الخط په اساس تجریه شوی . په زیاترو ژبو کښې ، او همدغه راز په پښتو کښې داسې عناصر شته چه یوازی په تلفظ کښې ، راځی خو په لیک دود کښې نه شی ښکاره کېدای او هسې چه موګوته ورته نیوه ، دا عناصر د خج او آهنګ جنبې دی . خج غالباً په کلمو کښې او د کلمو په ساختمانو کښې برخه لری ، نو ځکه د ژبې له صرفی بحثو نو سره اړیکې ټینګوی . خو آهنګ له اوږدو ساختمانو یعنی فقرو او جملو سره تړون لری او ځکه یوه نحوی جنبه تشکیلوی . تر اوسه پورې په پښتو کښې د آهنګ درې مختلف نسبی اندازې لګولې شوی دی چه ورته خورا جګ آهنګ [۱] ، جګ آهنګ [۲] او منځوی آهنګ [۳] و یلی شي د آهنګ معیارونه ز موږ خپلو فاضلا نو تراوسه نه دی څیړلی او په خارجیانو کښې ډاکتر پنزل دا کار په خپل ګرامر کښې تر یوه حده سر ته رسولی دی .

۱۵ : د حالت او مطابقت جنبې :

پښتو دوه نورې نحوی جنبې هم لری چه یوې ته یې حالتی جنبه او بلې ته یې د مطابقت جنبه وایی . حالت د الفاظو هغه خاص صرفی شکل ته وایی چه په خاصو نحوی موقعیتو کښې یې غوره کړی ، د پښتو نومونه ، ضمیرونه ، صفتونه دغه ډول مختلف حالتونه لری . افغانی ګرامر پوهان په پښتو کښې څلور حالته د فاعلی حالت ، مفعولی حالت ، ارتباطی حالت او ندایی حالت په نومو تشریح کړی دی . دغه مختلف حالتونه ځانته مختلفې تاکلی صرفی علامې لری چه په دې لحاظ

یو ه صرفی جنبه هم تشکیلوی . خو په نحوی اساس سره باید د دغو حالاتو د استعمال ځایونه په جملو او فقرو کښې وڅیړل شی . د شکل په اساس په پښتو کښې یوه اصلی حالت دوه منحرف حالتونه او یو ندایی حالت موندل کیږی ، په دې ډول :

کور ابا د شو (کور ، مفرد، اصلی حالت) کورونه آباد شول (کورونه ،جمع ،اصلی حالت) په کور کښې دی (کور،مفرد، لومړی اوښتی حالت یا دار تباطی حالت د علامې په لحاظ داصلی حالت سره توپیر نلری)

له کوره ووت.(کوره - مفرد،دوهم اوښتی حالت یا ار تباطی حالت خج یې پر لومړی هجا باندې)

له کوروو وتل (کورو،-جمع، دویم اوښتی حالت یا دا رتباطی حالت) کوره !خدای دې رنګ کړه .د کوره-خج پردوهمې هجاباندې، مفرد،ندایی حالت)کورونو! خدای مو رنګ کړه. (کورونو - جمع ، ندایی حالت)

دپښتو داصلی (فاعلی) حالت او اوښتی (ارتباطی)حالت داستعمال موقعیت دفعل د وقوع په زمانه اودفعل په لازمی توب او متعدی توب بورې مشروط کیږی ، لکه.

ښځه راغله؛سړی راغې.(ښځه،سړی- مفرد اصلی حالت ؛راغله؛راغی فعل حال ، لازمی)

ښځې ووهلم.؛سړی ووهلم .(ښځې، سړی مفرد اوښتی حالت؛و وهلم

فعل ماضی مطلق، متعدی)

ښځې راغلې؛ سړی راغله .(ښځې ، سړی جمع ،اصلی حالت؛ راغلې ،

راغله فعل مافی مطلق متعدی)

ښځو ووهلم؛سړو وهلم (ښځو، سړو - جمع اوښتی حالت ؛و وهلم .

فعل ماضی مطاق متعدی)

دپښتو ضمیرونه هم مختلف حالتونه لری : -

زه وایم	(فاعلی-اصلی حالت)
ماته وایی	(ارتباطی - اوښتی حالت)
ته وایې	(فاعلی -اصلی حالت)
تاته وایی	(ارتباطی- اوښتی حالت)
دی وایی	(فاعلی - اصلی حالت)
ده ته وایی	(ارتباطی-اوښتی حالت)
داوایی	(- فاعلی اصلی حالت)
دې ته وایی	(ارتباطی- اوښتی حالت)
څوك وایی	(فاعلی-اصلی حالت)
چاته وایی	(ارتباطی-اوښتی حالت)

دضمایرو دبېلو بېلو حالتو استعمال هم د فعل په زمانه اودفعل په ډول(لازمی والی،متعدی والی)مشروط کیږی ، لکه.

زه وایم	(فاعلی- اصلی حالت ، فعل حال)
ما وویل	(فاعلی-اوښتی حالت، فعل ماضی)
ته وایې	(فاعلی-اصلی حالت، فعل حال)
تاوویل	(فاعلی-اوښتی حالت ،فعل ماضی)

په پښتو کښې د نومونو د ځینو ډلو حالتونه د وقوع د تر تیب په واسطه هم تا کل کیږی. د نومونو د ډلې د مختلفو نحوی حالاتو له پاره تا کلی صرفی علامې نه لری ، لکه :

زلمی محمود وهی ، د زلمی - فاعلی حالت ؛ محمود - مفعولی حالت)

محمود د زلمی وهی د محمود - فاعلی حالت ؛ زلمی مفعولی حالت)

۱٦ — مطابقت:

څنګه چه وموویل د پښتو یوه بله نحوی جنبه «مطابقت» دی. د مطابقت معنی دا ده چه : ځینی تا کلې کلمې له ځینو نور و کلمو سره په یو خاص ډول مطابق شکل غوره کوی. په پښتو کښې متبدا (فاعل - مسندالیه نایب فاعل) له خبر (فعل یا مسند) سره په عدد او جنس کښې مطابقت لری لکه :

سړی راغی (سړی مفرد ، مذکر ؛ راغی - مفرد مذکر).

سړی راغله له روستی زور کی سره (سړی جمع ، مذکر ؛ راغله جمع ، مذکر)

ښځه راغله له وروستی زور سره (ښځه مفرد ، مؤنث ؛ راغله مفرد ، مونث)

ښځې راغلې (ښځې - جمع ، مؤنث ؛ راغلې جمع ، مؤنث)

همدا رنګه په صفتی - ترکیبو (صفت او موصوف) کښې هم صفت له خپل متعلق موصوف د اسمی صورت) سره په حالت ، جنس او عدد کښې مطابقت ځرګندوی ، لکه :

زوړ سړی راغی .

(زوړ - صفت ، اصلی حالت ، مفرد ، مذکر ؛ سړی - موصوف اصلی حالت ، مفرد ، مذکر)

زاړه سړی راځی .

(زاړه - صفت ، اصلی حالت ، جمع ، مذکر ، سړی : موصوف ، اصلی حالت ، جمع ، مذکر)

زاړه سړی ته

(زاړه - صفت ، ارتباطی او ښتی حالت ، مفرد مذکر ؛ سړی - اسم - ارتباطی او ښتی حالت ، مفرد مذکر)

زړو سړو ته .

(زړو صفت ، ارتباطی او ښتی حالت ، جمع ، مذکر ، سړو اسم ، ارتباطی او ښتی حالت ، جمع ، مذکر)

زړه ښځه راغله

(زړه - صفت اصلی حالت ، مفرد ، مونث ؛ ښځه - اسم ، اصلی حالت ، مفرد ، مؤنث)

زړې ښځې راغلی.

(زړې صفت ، فاعلی اصلی حالت ، جمع ، مؤنث ؛ ښځې - اسم ، فاعلی اصلی حالت ، جمع ، مؤنث)

زړو ښځو ته مې وویل .

(زړو - صفت ، ارتباطی او ښتی حالت ، مؤنث ؛ ښځو - اسم ، ارتباطی او ښتی حالت ، مؤنث) .

او داسې نور . . . . . (پای)

قدرت الله حداد

دلیکوال نوکری او خدمت

دپښتنو ادیبانو اخلاقی زړورتیا .

نن لیکوال هغه ته نه وایې چه پر حقیقت پرده وغوړوی او بیا په خپل ذهن کښې بل ډول فکرو کړی ، ځان په زوره دهغه فکر تر تاثیر او اغیزې لاندی راولی ؛ دا یو طبیعی واقعیت دی چه ددغه راز لیکوال څیره حق په جاب بر ېښی . ځکه دی په دې برخه کښې له یوه فیزیکی تخنیک څخه کار اخلی .

پوهانو څرګنده کړې ده چه کله کله او په ځینو دورو کښې ادبیات او هنر هم د یوه فکر او مطلب له خوا استخدام کېږی . دا خبره زما په عقیده لږ څه سمون غواړی یعنی داسی باید وویل شی چه ادیب او هنرمند په ځینو دورو کښې استخدامېږی .

دا هم معقوله ده چه ادبیات او هنر استخدام شی یا په بل عبارت ادیب او هنرمند مګر د سر ټکونی ځای هغه دی چه ادیب له خپل ادب و هنرمند له خپل هنر سره له ډګر څخه و وزی او ځان ګوښه کاندی —

نو بیا څه کیږی ! دغه مهال هغو خلکو ته زمینه بر ابر ېږی چه نه ادیبان دی او نه هنرمندان ، دوی غریبان نیمګړی استعدادونه لری او په یوه ګوله ډوډۍ پسې ګرځی کله چه دغه ډول وګړی ډګر ته را ودانګی نو پر ادب او هنر لو بې شروع شی - زما مطلب دادی چه دغسې دوری ته باید د ادب او هنر در ټلو دوره وویل شی . نه د استخدام دوره - ځکه دا ستخدام دوره هغې دورې ته ویله کېږی چه حقیقی ادیبان او هنرمند لږ او ډېر یو فکر منی او تر یوه حده یې قناعت حاصل شوی وی او یا دا چه بیخی پر هغه ایمان راوړی نو دولس در اوېښولو له پاره استخدامېږی او د ژوندانه د بدلون هره برخه کښې کارکوی دولس پاملرنه ملی لوړو هدفو ته راګرځوی .

هغه دوره چه په هغې کښې دولس پاملرنه لوړو هدفو ته راګرځی ادبیات او هنر حتماً باید استخدام شی .

مګر دا هغه دوره نه ده چه ادیب او هنرمند ډګر پرې ایښی وی او په ګوښو کښې د خپلو اعصابو په ضعیفولو بوخت وی او غواړی چه په زوره خپل ماغزه کمزوری کړی .

که چیری د ادبیاتو تاریخ ته یو نظر وشی دا به څرګنده شی چه په هره دوره کښې چه د شرابو ، میخانو او بیخودی ستاینه ډیره وی هغه د ډباو او د ظلم دوره ده - او د لیکونکی په عقیده اوس دغه شی مشخصه علامه بللی شو .

دغه راز د تصوف فلسفه هغو کسانو مینځ ته راوستې ده چه د هغوی زړونه له دنیا تورو او خپلې هستۍ کښې یې نیستی او نیستی کښې یې هستی لیده .

د پښتنو ادیبانو معنوی زړور تیا :

یه دې برخه کښې باید داخبره وویله شی - چه حقیقی لکوال باید لکه یو رسام څه چه وینی هغه و کاږی او کوم احساس چه په ده کښې دیوی واقع بینۍ له مخی پیدا کیږی هغه ولس ته وښیی، دا شوه د لیکوال وظیفه. اوس راغلو د لیکوال قدرت او لیاقت ته. څرنګه چه ما کسیم ګورګی وایی: بالزاك لوی لیکوال دی ده د څو کسو مرکه په دومره قدرت لیکلې، چه ما د لوستلو په وخت کښې د هر یوه غبز اوریده زه دده په عظمت اولویی - پوهیدلی یم(۱) بیا وایی: لیکوال باید - لوستونکی خپلې نړۍ ته بوزی او هغه - ورو ښیی او دا دی د لیکوال قدرت .

احمد کسروی یو ایرانی لیکوال د حافظ - چه میګوید، کتاب او خپلو نورو مقالو کښې - یوه خبره ټینګه نیولې ده چه حافظ ، سعدی او نورو ایرانی شاعرانو - د خپل عصر له سیاسی ، اجتماعی او اخلاقی حالاتو څخه نه دی غبزیدلی د مثال په توګه وایی سعدی د مغلو د ناتار په زمانه کښې اوسیده مګر - ده په ټول دیوان او لیکنو کښې داخبره - نه ده یاده کړې. او دغه راز لیکوال او شاعر باید خپله زمانه او محیط راتلونکی نسل - او نورو بهر نیوو ګړو ته وښیی مګر ایرانیو شاعرانو او لیکوالو د احمد کسروی په عقیده دا اخلاقی جرأت نه لاره . او دغه راز یی حافظ هم ډیر ګرم کړی . داخبره رښتیا ده چه دغه لوړ اخلاقی خصوصیت په لرغونو او اوسنو پښتنو شاعرانو او لیکوالو کښې زښته څرګند دی .

رحمان بابا د وخت حکومت دومره ښه ښودلی دی چه اوس هم سړی پوهیدای شی چه د هغه وخت وا کمن څه ډول خلك وو دی دوا کمنو له لاسه کور، اور، ګور او پېښاور درې واړیو بولی. دلته سړی اړنه دی چه د رحمان بابا په عصر کښې یوائی. موږ پوهیدای شو چه د هغه وخت سیاسی رژیم څومره ظالمانه وو

حمید مهمند د مغلو ظلم یادوی او مغل له ظلم سره لازم او ملزوم بولی دی. خپلې معشوقې ته وایی چه : ته خو اصیله پښتنه یې مګر د ظلم خوی دی له مغلو زده کړی . د پښتو په ملی ادب کښې هم ډیره واقع بینی موجوده ده په یوې لنډی کښې ویل شوی چه : -

چیرته لندن چیرته چترال —

بې ننګی زور شوه انګریزان چترال له ځینه .

(۱) د لیکوالی فن د ما کسیم ګورکی لیکنه .

د خوشحال بابا په شاعرۍ کښې ټول خصوصیات موجود دي خود سیاسي او اجتماعي حالاتو یې پرې ښې منظري ایستلي دي لکه سعدي او حافظ په بله لاره نه دي تللي او هر حالت یې داسې په حقیقي صورت - بیان کړي چه موږ له هرې دورې څخه - د ده له دورې سره ښه آشنا یو . - همدا اوس هر څوك د پښتنو دهغې - ورځې وضعیت په ښه توګه درك کولای شي اود مغلو په اداري نظام ، سیاسي عمل اخلاق او هرڅه پوهیدلای شي . خوشحال بابا اقتصادي حالت ته هم د اهمیت په نظر کتلی د اسارت اقتصادي - خصوصیت داسې بیانوي :

نه خپل ورکړه را نبول شته
نه خپل حکم حکومت دي
د بل حکم پرې زندان شي
چه په خپل حکم عادت دي

لنډه دا چه خوشحال د مغلو ظلم ، ناتار - او استعماري سیاست ، د پښتنو دځینو تبرو غیرت او توره ، دځینو بې غیرتي ، بې اتفاق ، ناپوهي ټول څرګند کړي - ده پښتونواله ستایلي او مشخص کړي او دهغې لوړې نمونې یې ښودلي ، د خوشحال لیکنې د خپلې دورې ، اخلاقي ، اجتماعي ، اقتصادي ، سیاسي او روحي - حالات ښیي او ده هیڅ شی که ښه دي او که بد نه دي پټ کړي مګر د اصلاح او سمون لارې یې هم ښودلي .

تر خوشحال بابا وروسته تر اوسته پورې د پښتو ادیبانو - او شاعرانو معنوي زړه ورتیا په ښه توګه څرګنده ده او نن چه د پښتنو له پاره یوه نوې زمانه راتلونکې ده په پښتو ادب کښې د ادب اصلي او حقیقي ښه لید له - کیږي . همدا اوس هغه پښتانه چه د (ډیورند) له کرښې هاپلو اوسي ، او تر یوه پرې دې سلطې لاندې دي مګر - سره له هغو بندیزونو چه دپاکستان نومې یوه شیر نما ینده او د لاس آله دولت له خوا موجود دي د دوی افکار خپله حقیقي لاره تعقیبوي - او خورا لوړ ادبي مفاخر او ویاړنې یې - غوندې کړې ، چه د وخت ټول سیاسي ، اجتماعي او اخلاقي خصوصیات بیانوي او هیڅ کله پر حقیقت پرده نه غوړوي ، کومې مجلې ، اخبارونه ، رسالې او کتابونه چه ما ته په لاس راغلي - هغو ټولو کښې د احمد کسروي په خو ښه یعنې د عصر - ټول خصوصیات بې پردې په کښې بیان شوي او د ما ګسیم ګورکي په عقیده ټولو په خو را قدرت د ظلم او ناتار صحنې ښو دلې دي .

که څه هم په کاروچه ما خپل شواهد پوره - ښو دلي وای مګر هغې نه بیا مقاله نه جوړیده هغه مواد دومره زیات دي چه ایله - په یوه پرې کتاب کښې ځای شوي وای . زما دایقین دي چه د لوستو نکو لو په - ډله پر دغه حقایقو باور لري .

او پو هیږي چه هغوي نوکر لیکوالان نه دي .



«سیلاب» صافي

مینه

زما ژړا زما خندا مینه ده
چه په کښې نغښتی دا شنا مینه ده

د چا له مینې نه مې مینه پیدا
هره سلګۍ مینه سودا مینه ده

مینه مې ژوند مینه ارزوا وامید
بس زما روح او زما ساه مینه ده

ګل په بلبل حسن په عشق ناز یږی
دلته غرور او ناز رسا مینه ده

د پښتنی مینې په هر منزل کښې
د غلا نظر مینه حیا مینه ده

اوس را شه هرڅه مینه مینه ښکاری
چا را ښودلې په موسکا مینه ده

د مینی تار چه یو ځل وغښ یږی
بیا په کښې هر د مشغولا مینه ده

خواله په مینه مینه را شه یو ځل
چه پاریدلې می نن بیا مینه ده

په زړه کښې مینه په خوله مینه مینه
سیلاب ! ستا مینه رښتیا مینه ده

میر مهدی شاه مهدی

چه په مینه کښې سر پر یوځی هغه سرشی
چه په جنګ کښې قدم ښخ کړی هغه برشی

حوادث د زمانو له حادثه شی
هغه زړه چه شاګردی کښې دخیبرشی
شلی پښې هم ګران مزل وځانته غوځ کړی
چه قدم مې په قدم د خپل رهبر شی
مکان څه چه لامکان یې هم تر پښوشی
دهغو چه یې پرواز د عشق په پر شی
چه دزلفو په تال ور سیبزی د ارته
سر داری د عاشقانو له بهتر شی
چه پښتو ننګ او غیرت دریواړه خپل کړی
بیا به څر نګه کافر وی چه کافرشی
شابی شابی کمند واچوی په ستو رو
دهمت بچو وړ زر - زر چه سحر شی
چه یادونه مې دیار پر پې تازه کیبزی
روغ اختردی که مې زړه برهر پرشی
چه د یار ستر ګو کښې زه زما کښې یار وی
مناسب دی چه رقیب مې کوز نظر شی

بختانی

ډیوه

لګولې یم خوارانو دهقانانو
بس رڼا یمه په کور دغریبانو
توره شپه کښې یې امید غوندې ځلېږم
رڼو مه تیاره کور دمزدورانو
یم د کلی په حجرو او په جومات کښې
رفاقت کښې د مستانو او شېخانو
ما په شپو په شپو ژړلی دی یوازې
ادیره کښې په مزار دشهیدانو
نازو نیاز، ګېلې ماڼې، دزړه رازونه
اوریدلې مې کیسی د مینانو
په خوږوخوږ و خبرو مرکو کښې
یم شاهده په یارۍ کښې دیارانو
د عاشق په استقبال کښې سوزم ځکه
د پتنګ یمه مرکز د آرزوګانو
زه سوز ېږم او رڼا شم بل د پاره
یم تیارو کښې رهنما د ګمراهانو
په پرتو کښې مې دزړه مطلب موندلی
تل پوهانو، حکیمانو، شاعرانو
بختانیه! زه ددې خاورې ډیوه یم
چه بلېږمه په کور کښې دخوارانو

ولی محمد مخلص

د کندهار مجلی څخه

هچه

چه لرم په زړه کښې ډیر ارمان دمچې
دا زبېښم ځکه په شوق شونډان دمچې
ښکلو مه کا نمی بو تی مځکې غرو نه
چه پر هر شی مې راځی ګمان دمچې
شرط د زړه بایلل قمار و په میدان کښې
زه عشق پیښ کړم پر هغه دوکان دمچې
زاهد ولید تاب یې نه و خلوتی شو
چه په بیه کښې ما ورکړ ځان دمچې
که په حشر سررا پور ته کړم له خاورو
لا منم به دې هغه احسان دمچې
چه ما ښام سپوږمۍ پیغام دمچې راوړی
د سهار سترګې مې وی نښان دمچې
زلفې نه دی د باړ خو وشاو خواته
دی ماران پیره داران پر کان دمچې
د شرابو کیسه رند ته کوه ګوره
څه ملا او شیخ ته کړې بیان دمچې
شوق دې ژوند دبی هوښی نشه و کیف دی
که له ما «مخلصه» کړې پرسان دمچې

ع ، قتیل خوږ یانی

دحق لپاره !

دحق لپاره کړاوونه قبلول دی په کار
زامن او لونې دغې لارکښې هېرول دی په کار

☆ ☆ ☆

بې له زحمته چا مطلوب وړ یا موندلی نه دی
که مطلب غواړې تکلیفو نه تېرول دی په کار

☆ ☆ ☆

که ګلاب غواړې داغزو څوکې تېرې و منه
په دې طلب کښې ډېرې سختې هضمول دی په کار

☆ ☆ ☆

د شرینې مینه لتافرهادی عزم غواړی
د وصل لار کښې پاخه غرونه نړول دی په کار

☆ ☆ ☆

جاه وجلال او محبت دی متضاد نومونه
که مینه غواړې نو ګریوان شیرې کول دی په کار

☆ ☆ ☆

د مینې لعل څوک په ارام زړګی موندلی نه شی
د یو شهید پتنګ ایرو کښې لټول دی په کار

☆ ☆ ☆

دحق په لاره کښې « قتیله » له چامه ویرېږ ه
دحق بیرغ به هرمقام کښې رپول دی به کار

عبد المنان درد مند

د قسمت فیصله

توغ د غزا مې په سنګر ولاړ دی
جوش دغیرت مې په ځیګر ولاړ دی

ما ته ګلونه شکرا نې مه را وړیء
ز ما ارمان په سور منظر ولاړ دی

مست انتظار مې د بر یښنا په ډول
مجا د لې تـه پـه ډګر و لا ړ دی

اشنااحسا س مې پار ېدلی ښکاری
په انتظا ر د خپل د لبر و لا ړ دی

ځوا ن رندانه فکررا وښو د منزل
چه نیم بسمل کفن په سر و لا ړ دی

دتړ مو او ښکو په د عا مې قسم
د و ینوډنډ ته مې پر هر و لاړ دی

دا د قسمت د فیصلې چیغـه ده
افغان پښتون پهخپل ټبر و لا ړ دی

ناپوهه مه څښه په غلبیل کښې او به
داستعما ر مر ګ ته خنجر و لاړ دی

د ابا سیند د غو ر زنګو نو په شان
کیمور پـه سرد پېښور و لا ړ دی

د و ر دو لی ا و ملګر تیا په نا مه
دلته پښتو ن غیو ر لښکر ولاړ دی

د پښتنـو ا لی د ثبـو ت د پـا ر ه
افغان پښتون ته لکهغـر و لاړ دی

پېغلې تو ښې وړ ی په ځلمو پسې بیا
چه سرد ر یا ب تـه اشنغر ولاړ دی

د اد پښتو ا و پښتنو ا لې د عو ه
په زړه دردمند ورته په سرولاړدی

په یوه ادبی مجله ـ شو روی ادب کښې منقد انو، شاعرانو، اوسا ینس پوهانود شعر دورځې په مناسبت لیکنې کړی او د شاعر، اوساینس پوه، شعر اوساینس، اودهغوی له یو تربله اړ یکیونه په کښې غبزپدلی دی. یو هنرمن ته دغسې لیکنې به زړه پورې وی، ځکه نو یو ځای بل ځای ورپسې لټوی، او تل په دې فکروی چه داسې لیکنې په غورولولی دهمدې منظور دپاره دهغو یو څو لیکنې پښتو شوی، چه دا دی دلته به خپل اصلی ترتیب یو په بل پسې خپرېږی ادا ره.

لیو لا نداو (فزیك پوه) پښتو کونکی حسن کاکړ

په فزیك کښې دنوبل جایزې وړونکی

یوه ګرانه پوښتنه.

دشعر مقصد څه شی دی؟؟

یو څو ك به دا پوښتنه هم وکړی: دمینې مقصد څه شی دی؟؟ دهغو دپاره چه پرې مین دی ـ شعر دژوند ښکلا اورنګ زیاتوی. زه دخپل ځان په باب داوایم چه زه به دخپل محبوب شاعر ـ لرمنتوف له اشعارو نه غیر ځان ورك حسن کړم ځکه څه وخت چه دهغو روح خو ځولی یم ـ هغه مې ځانته په لوړ اوازاور ولی دی.

دارښتیاده! چه دښه شعر دپاره کوم نظری فورمول نه شته ـ او که وای ـ هرچا به کولی شو ای چه چېرته کښینی اولومړی درجه شعر جوړ کړی.

یوازې یورښتیانی شاعرمونږ خو ځولی شی.

ایکونکی: موپسی مار کوف (فز یك پوه)

پښتو کوونکی : پالوال

دشاعر او فزیك پوه دتخالف د مسئلې په شاوخوا کښې

دغه داسې ښکاره کوی چه هغه چه موږ دلته لروهغه دشاعر په مقابل کښې دشاعر شخړه ده. داسې معلومیږی چه یو بزمی شاعر دې دفزیك عظمت دار نګه له منځه یوسی - لکه دوجدانی انتقاد یو رمزچه یې په نظم کښې نخره ور جوړه کړې ده .

داډیره مشکله ده چه یو فزیکدان دې- ددې قضاوت و کړی چه دیوه شاعر له پاره فزیك څومره ضروری دی-مګر که موږ بالکل امین واوسو نو دیوه فزیکدان له پاره شعر یوه ضرورت ، دی . دځینو شاعرانو په نظر کښې فزیکدان یو فوق العاده موجود او یا یوراز لوړ سړی ښکاریږی. دمړو خیالا تو لمانځل او پرستش یوه ګناه ده- خصوصاً بیا داسې یو سوړ او بې خونده خیال لکه یو راز د منطق ماشین چه پر پایه باندې سپور شوی دی .

☆ ☆ ☆

سیانسی تفکرا کثراً له شعری تفکره سره مخالف دی .

ښایی چه په رښتیادې هم دسیانسی علو مو ځانته ژبه یونا اشنا او بې خبره سړی وبیروی. په زاړه یونان کښې دافلاطون دا کاډیمی پرسر باندې یوه داسې لوحه کښلې شوې وه چه : «هغه څوك چه په فزیك نه پوهیږی-نه شی راتلای» یقیناً دغه ممانعت تردې انده کافی دی چه د یوه اومی او بې تجربې سړی جرئت دې ور کم کړی مګر شاعرد افلاطون اکاډیمی ته څه ضرورت لری ؟؟

ددې له پاره چه دنوی فزیك پر کارنا موباندې قصیدی جوړې کړی، زه ګومان کوم چه په داسې صورت کښې به دوی دواړه لوړاوتیټ وی. سره له دې چه دغه موضوع ډیره باریکه ده خو بیا هم په تکلیف سره دومره کیدای شی چه شاوخوا دې یو څه په کښې وپلټو .

ایا شاعر د دې ضرورت لری چه فزیکی موضوع دې په شعری اصطلاحاتو کښې بیان کړی. زما ګرانو ملګرو شاعرانو ! ماته اجازه را کړی، چه تاسو ته دځان دسا تنې له پاره د (لوکریتوس) «دشیانو طبیعت» دلوستلو نصیحت وکړم یو کلاسیك علمی او منظم شعر مګر افسوس چه څومره ټیټ او کښته دی .

☆ ☆ ☆

کله چه څوك دسیانس او شعر دتوپیر په باب خبرې کوی- نو دوی دغه هېروی چه تخلیقی سیانس له یوه بل تخلیقی کار سره چه په هغه کښې

شعرهم داخل دی- یوه لویه مشتر که ساحه لری.

په رښتیا هم د بشپړ سیانس د تخلیقی مرحلې مقایسه دارت له هغې سره کوم مخالفت نه ښیی- بلکه یو مشابهت دی چه څوك په حیرت کښې اچوی. تا سې کولای شیء چه په شعر کښې هم دفزیك غوندې د تخلیقی اوړ والې احظې چه د تیاری ما یوسی په حسیا توسره تغییر مومی- دغسې هم د خیالا تو مخلوط ترکیب، دغسې هم د کشف رنګاوې- پیدا کړی- او په دغو ټولو کښې یو سخت دایمی او بې رحمه کار وجود لری.

په عمومی ډول سره د سیانسی کشفیاتو لارې اکثراً کبزی او تیرایستونکی دی. مګر په حقیقت کښې یې زیاتې له یوې روښانې منطقی رابطې څخه د هغې منتجې مقالې چه په ځینو سیانسی ورځپانو کښې خپریږی- له لارې څخه نا رې وهی.

☆ ☆ ☆

د نویو شیانو په پیژندلو کښې شاعر او سیانس پوه دواړه یوله بل سره ښه مشتر که برخه لری. په ښکاره سره دغه یو وسیع تصور دی چه سیانسی ژبه تردې اندازې محدوده ده- خو د یوې نوې پیښې بیانول به په دغې ژبې کښې حتماً د عقیدې مطلق قوت ولری- چه دغسې شیان لکه فردی لذت او باطنی عکس العملو نه هیڅ ځای په کښې نه لری. په هره توګه خو موږ په دقیقې کتنې سره داپیدا کوو چه دغه رښتیانه ده.

(ما کس بلابك) ویلی دی چه په فزیك کښې نوې پیښه نه شی کولای چه خپل ځان دې په هغو کسا نو و منی- کوم چه دزړو ادرا کا تو منونکی دی هغه څه چه په دغې موضوع کښې پیښیږی هغه په ساده ډول سره داسې وی چه دزړو معلوماتو منونکی وګړی دې- له منځه څخه ځی او برځای باندې راتلونکی نسل ودې ته تمایل لری خود نویو معلوماتو خاوندان شی. ښایی دغه دې دیوې کیسې او معما غوندې وایسیی- مګر په دغې کښې دیوه عنصری جدول تر حقیقت ډیر حقایق موجود دی.

☆ ☆ ☆

د فزیکدان او شاعر د مخالفت په موضوع کښې د دې پادونه شوې وه چه بزمی شعر خپل ځان ډیر عمر پایولی دی- تر څو چه موضوع یې دزمانې په تیریدلو سره له منځه تللې ده- نو دی هم مبتذل او بی قدره شوی دی.

په سیانسی نړۍ کښې دغه یو اشنا او ښه استدلال دی.

یو څوك کولای شی چه له سیانسی نزدې کښینی څخه ځینې حیرتنا که مثالو نه په هغه ترڅ کښې راوړی چه سیانسی په نسبی سکوت اوارامی کښې وی، او اکثراً لا په هغه بیخی نژدې ګړی کښې- چه او س نو فزیك د پرمختګ وخواته د ځینو لویو ګامو اخیستلو په شرف کښې وی- پیښیږی. د دغه فزیکدان دا عقیده ده چه په هرصورت کښې به د بزمی شعر موضوع داسې

نه تمامید ونکې وی- لکه دطبیعت هغې چه ده دهغه طبیعت د کوم اسرار چه فزیکدان دابدله پاره تجربه کوی مگر نه تمامیږی.

هغه لویه خبره یې نوداده چه د بزمی شعر موضوع له یوې دورې څخه تر بلې دورې پورې اوړی او تبدیلیږی، دورځنی سړی دروحانی خود خواهی او دوروستۍ پیړۍ دیوه سړی ترمنځ به نه یوازی په جزئیاتو کښې تو پیروی- بلکه اساسی مشخصه علامات به یې هم خوراډیر ځله لرې وی. مگر ستاسې هغه پیژندلی الکټرون- چه دفزیکی مطالعې موضوع تشکیلوی- په دغې زمانې کښې خو هیڅ تغییر او تبدل نه لری

☆ ☆ ☆

کله چه یو فزیکدان په خپله ساحه کښې، کومه سیانسی لیکنه گوری- نو دی ددې پلټنه کوی چه گوندې کوم نوی شی په کښې پیدا کړی او یا پر هغه څه باندې پیښ شی کوم چه وده ته مجهول وی. مگر کله چه دی د دغه په پیدا کونه کښې ناکامه شی- نو ورځپاڼه په نامیدۍ سره ټوله کړی او ویې پیچی. دغه څه نه څه هغسې روح لری لکه موږ چه یو شعر په دې نیت را اخلو: چه ایا دغه ابتکار به و موږ ته څه نوی شی په لاس را کړی؟؟ شاعر به و موږ ته دانسانی روح او بشری روابطو کوم نوی او توقع نه کید ونکی مخ راښکاره کړی؟؟ ده به کومه نوې «طریقه» (ژبه- خیال) په کار اچولی وی چه موږ به سره وریږدوی؟؟ په یوه سیانسی لیکنه کښې موږ په سیانسی کشفیاتو پسې گرځو مگر په یوه شعر کښې په شعری ابتکاراتو پسې گورو.

که چیرې غیر ریاضیدان او بزمی شاعر دفزیکدان له مخصوصې «بشپړی» ژبې څخه بدوړی مگر فزیکدان په خپل وار سره د شعری ژبې هغه ثروتمند انتقالی قوتونه ستایی کوم چه په یوه مختصره او ښایسته وینه (فارمول- متل- بیت) کښې- هغه څه د کومو له پاره چه ریاضیدان داظهار او څرگند ولو هیڅ وسیله نه لری اچول کید لای شی.

پای

سیاست

سیاست دمطلب سرته رسول دی
په تدبیر او فکر باندې کار کول دی
خپلو ټولو کوښښو خپلو نقشونه
مستقیمه نتیجه نه اخستل دی

الفت

ایو ګینی وینو کو روف (شاعر)

مترجم : محمد صدیق روهی

دري اړخیزه نړۍ (۱)

دغه مباحثه چه ساینس زیات اهمیت لري که آرټ ، بې معنا ده . انسان ته عقل او هنري غریزه دواړه وربښل شوي دي . دغه دواړه (علمي او هنري) عناصر د نړۍ دپېژندلو دپاره مطابقت کوي او یو تر بله مغایرت نه لري .

ددغو دوو تر منځ یوه سرحدي کرښه پرته ده مګر د هغو تر منځ خلیج نشته . لکه چه یو چا په دې برخه کښې ډېره مناسبه خبره کړې ده او ویلي یې دي : « کله چه جذبات دساینس پرمخ رڼا واچوي ، له ساینس څخه شعر جوړیږي » اما شعر هم د ساینس په شان صحت او استحکام در لودلی شي .

زما په عقیده دادبیاتو تاداو باید په ښوونځي کښې کېښودل شي . ښایي چه ماشوم له نړۍ — کلچر او تاریخ سره رابطه پیدا کړي . ماشوم ته اجازه ورکړيء چه پخواتر دې چه ډاکټر - مقنن - فزیک پوهاند - میخانیک یاد بلې حرفې خاوندشي خپل شخصیت ته شکل ور کړي . فکر او احساسات په انسان کښې اخښل شوي دي او دوی دیوه او بل پالنه کوي . ته یو نه شي کمولی تر څو چه هغه بل کم نه کړي .

که له ځوانانو څخه شعر واخلیء په نتیجه کښې به دوی ته ګرمي او عاطفه پاتې نه شي . انسان شعر ته ډېر زیات ضرورت لري . که چېرې له ده څخه شعر واخسیتل شي ، دي به دهغې پر ځای یو بل قائم مقام پیدا کړي . که شعر نه وي ژوند یوه وحشتناکه منظره ده . شعر د سړي او ښځې پر تړون باندې مهر لګوي او که هغه په منځ کښې نه وي هر شي ښکته پریوزي . هر څومره چه شعر کم شي هماغومره خالیګاه زیاتیږي .

هر یوه نظم ته شعر نه شو ویلای ، بلکه ریښتني شاعر زموږ د احساساتو دنیا ته رنګ او ترتیب ور کوي . هر چېرې او په هر څه کښې شعر شته ، شعر د ژوند یو نه بېلېدونکي ټوک دي .

---

(۱) په انګلیسي کښې دا عنوان (THE THREE - DIMENSIONAL WORLD) و ، چه ښایي په دري بعدي نړۍ سره ترجمه شي . زه دا منم چه د پښتو اړخ د عربي له بعد سره تو پیر لري ، همدارنګه د بعد لغوي معناد (لري والي) دي مګر د (طول ، عرض او ضخامت) دپاره اوس دا کلمه مصطلح شوې ده . له اوسنۍ نظر یې سره سم (زمان او مکان)هم بعد ګڼل کیږي . نو که موږ بعد یا اړخ د لغت له مخې پر حقیقي معنی تطبیق کړو اصلي مفهوم نه شي څرګندولی . که څه هم د پښتو (اړخ) نسبتاً پراخ مفهوم لري ، سره له دې که لوستونکي وغواړي زه په دې برخه کښې د دوی انتقاد ته غاړه ږدم .

(مترجم)

لکه څنګه چه له بن بکر (۱) سره سپرغمۍ (۲) وی کومی چه د بلولو په انتظار کښې وی .

یوه محترم لیکو نکی د هغه چاپه برخه کښې چه تیا تر ته ځی ډیره عاقلانه تبصره وکړه « هغه توقع لری چه ده ته یوه نوی ننداره ورو ښودل شی ، سره له دې له یوه مخې غیر متوقعه هم نه وی . »

همدغه څه دشعر په برخه کښې هم ویلی. کله چه اوستونکی دلومړی ځل دپاره د نظم شویو لوی توک په لاس کښې اخلی ، دی یونوی شی په کښې لټوی ، خوداسې یونوی شی کوم چه دده دفکر په ژورو کښې په مبهم ډول پروت وی او انتظار لری چه همدغه مبهم احساس بهر ته راوزی .

نودا دشاعر کاردی چه همدغه مبهم احساس په خبرو راولی اوروښانه یې کړی .

یو نظم ، که هرڅومره ښه هم وی ، موږ ته پخپله دشاعر په باب ډېر لږ معلومات را کوی .

که څوک وغواړی چه د نظم په وسیله خپله عقیده څرګنده کړی هغه مجبور دی چه ډېر زیات نظمونه ووایی . دشاعر دباطنی آواز دڅرګند ولو دپاره ښایی چه دنظم یولوی ټوک تر کښې لاندې ونیول شی .

ځینی داسې نظمونه هم شته چه که هغوی په جلاډول مطالعه شی ، ډېر به ښه وی ، مګر کله چه په یوه مجموعه کښې ورته ځای ورکړل شی لږ څه عجیب او بیګانه ښکاری . هغوی هره خواته پل وهی ، ټکان ورکوی او یو تر بله نقیض واقع کیږی . خوځینی داسې نظمونه هم شته چه هغوی د یوې مناسبې مجموعې د جوړولو دپاره ائتلاف کوی . هریو لکه د یوه رخت د ټوټو په شان وی . د شاعر شخصیت لکه دسمنټودی چه ټول عمارت ته استحکام ورښی .

هرشاعر خپل ځانته بېله دنیا لری . پر شاعر باندې دیوې یا بلې قطعې له مخې قضاوت نشی کیدای بلکه ښایی چه دهغه ددنیا عمق اود ابتکار قوه په نظر کښې ونیول شی . د یوه رښتینی شاعر د نظم دیوه کتاب پرانیستل داسې مثال لری لکه چه موږ دشاعر دنیا ته دروازه ور خلاصه کړی وی ، یوه درې بعدی دنیا لکه چه زموږ په شاو خوا کښې پرته ده .

دیوه کمزوری شاعر دنیاد وه بعدی- دیوې قراردادی نمونې سره سمه او بې خونده ده .

دریاضی فارمول او خالص منطق ملیت نه لری . یوه عضوی بڼه همیشه له یوه تا کلی وخت او یوه تا کلی ځای سره اړه لری . رښتینی شعر د خپل عصر له خوا روزل کیږی .

ځینی شاعران شته چه هغوی په هنداره کښې ګوری او ځینی نه . لومړی ډله شاعران د خوشحالۍ لیوال دی . دوهمه ډله له یوه سره هغو مسائلو ته متوجه دی چه دوی یې مضطرب

(۱) چقماق (۲) داور بخری

کړی دی. ددوی غوږ یوا ځې خپل با طنی آواز اوری. لکه چه برناردشا ویلی دی، شاعران «په لوړ آواز له ځان سره خبرې کوی او دنیا هغوته غوږ نیسی.»

داخبره چه «سړی خپل مهارت ته ترقی ور کوی هروخت ماداحتیاط خواته رابولی» البته دافقره په خپل ذات کښې صحیح ده. خپل مهارت لوړول، زما په نظر، له هرڅه پخوا دا معنا لری چه سړی خپل دماغ وروزی او په یوه تېزاوژور فهم سره دد نیا د پېژ ند لو د پاره کو شش و کړی.

(مایاکوفسکی) زاړه شیان نه استعمالول؛ دی دهر نوی شی هواخواه و. دی آن تر آخرینې استعا رې پورې نوی و، اصلاً له دې کبله چه دده فکر نوی و. دوزن او قافیې شاعران هر وخت دهغوی دزیاتې توجه له مخې چه «تفصیل» ته یې لری کوم چه «په شعر کښې بالمثله معالجه بلل کیږی» پېژندلی شو. (پوشکین) ځینې داسې صفتونه استعمالول چه دده معاصر ینو ته به یې تکان ور کاوه. دهغه وخت عیب پلټو نکو عادت در لود چه در یشخند په ډول وایی چه دښاغلی پوشکین صفتونه «تعریفی» نه بلکه «تخریبی» دی. دغه خلك دداسې هیجانی تصوراتو په مقابل کښې لکه د «سیند په تیاره ډول بهیږی» کانه وو.

ددوی تصورات به هغه وخت په وړه کښې ولو پدل کله به چه له معیار څخه دانحراف سره مخامخ شول. له بده مرغه موږ اوس هم کله کله د شاعرانه خیالاتو په باب له یوې اصلی، ساده اوقراردادی طرز تلقی سره مخا مخ کیږو.

رښتینی هنرمن همیشه له دې سره علاقه لری چه کلمې پرخپل ځای استعمال کړی. دی یوه مبتذله کلمه اخلی او قرینه ورته تیاروی یاداسې تا ب ور کوی چه له هغې څخه د نوی ژوند سپرغی پو ر ته شی.

دشاعر فکرد موسیقی او تصور په شان دی شعر هغه نقاشی ده چه حر کت هم لری او داسې موسیقی ده چه په کلماتو کښې نغښتل شوې ده. شاعر یوا ځې خپله عقیده ښکاره کوی، وعظ نه کوی. دپوشکین په شعر کښې دغه درې عناصر - فکر، تصور او موسیقی په معجزه آسا ډول تر کیب شوی دی. دا کثرو ښو شاعرانو په برخه کښې له دغو درو عناصرو څخه یوا ځې یو عنصر تبارز کوی. په رښتینی شعر کښې کلمات یو تر بله داسې نژدې او بدل شوی دی چه په نقشه کښې هرتا رخپل ځای لری. یوا ځې یو تار کش کړی، نوره نقشه به په خپله تار په تارشی.

دیوه نظم ساحرانه اغېزه دهغې دپردې ترشا او په باطنی اعماقو کښې واقع وی. زه د هغو نظمونو پروا نه ساتم کوم چه هریوه (i) ته ټکی زدی. هغه نظمونه کوم چه دهغو ور وستنی قطعې اخلاقو ته اشاره کوی، زما په نظر، له یوې افسانې سره زیات شباهت لری نه له کوم شعر سره. البته زه دغه خبره (په حقیقت کښې زماله ټولو تبصرو څخه چه دلته مې لیکلی دی) دیوه قانون یادیوې فریضې په ډول نه وړ اندې کوم.

ساده لیکنه دغه یوه مشکله پوښتنه ده کیدای شی چه سړی دې ساده ولیکی بې له دې چه له یوې افراطی ریاضت کار انه سختګیرۍ څخه کار واخلی. مختلفی مجازی معنا ګانې بې ربطه سینګار نه دی، بلکه دمفکورو دځر ګندولو دپاره اساسی وسیلې ګڼل کیږی هغه نظم چه له استعارې، مقایسې او داسې نورو ښېګڼو څخه خالی وی سپېره او بې وینودی. هلته ډېر زیات اقتصار دی. شاعرانه اقتصار د نڅا کوونکو دځر کا تو له سخاوتمندانه اقتصار سره سره ډېر نژدیوالی لری نه دالکه چه یو بار وړونکی یوه پنډه د(A) له تکی نه د(B) ترتکی پورې یوسی. لوی لوی شاعران یواځې رنجبر صنعتګران نه ووچه پر خپل هنر باندې دتسلط دپاره بې زیار ایست، بلکه هغه څه چه دوی ته یې لو یی ورپه برخه کړه د هغوی رپیدونکی اهتزاز و. هغه یواځې عقل نه وچه ددوی قلمو نو ته بې لارښوونه کوله بلکه هوښیاری او احساسات وو. هر څومره چه شاعر لوی وی هماغومره بې اهتزاز هم زیات وی، یو داسې صفت چه سل کاله وروسته هم دده شعر پرموږ باندې لړ زه راوای.

اما هر څومره چه لرغونی شاعران لوی وی، داهغه وخت موږ ته پوره جوتیږی چه موږ دیوه نا معلوم لیکوال د نظم یو توک راواخلو نو په هغه کښې به موږ ته ددې خبرې تجربه وشی چه څنګه په غیر متوقعه ډول په کښې هغه آشنا او په مبهم ډول احساس شوی توقع مومو.

محبت

(۱)

محبت زیږی دزړو نوله شرکته
نه د مال او د دولت له شراکته

بې له مینې که احسان یا مدار اوی
مینه نه زیږی له هسې مرو ته

۲

رښتیا نی دوست نه لری هغه سړی
چه په خوله باندې وی خپل په زړه پردی

محبت دلاس اوژبې اثر نه کا
که په مینه نه وی تود دزړه نغری

(۳)

په دوستۍ کښې که څوک چل او سیاست کړی
له دوستانو سره بل شانې صحبت کړی

رښتیا نی دوست نه لری او نه یې مومی
که هر څو په خوله اظهار د محبت کړی

(٤)

محبت وی تل دزړو لاندې کورو کښې
فکر وی د دماغونو بنګلو کښې

په لوړ کور کښې که څه عقل فکر غواړی
محبت مه لټوه لوړو قصرو کښې

الفت

لیکونکی: اوزیروف (منقد)

مترجم : حسن کاکړ

دزړه مدار

زمونږ اوسنی عصر ترهرپخوانی عصر نه په نویو څیزو نو کښې زیات غنی دی- د دغه عصر تقاضا ده چه هنرمن دې په پخوانی کولتور پوه وی او داقدرت دې ولری چه دزړه مدار ته تو غندی وتوغوی.

دامونږته لکه لمر هومره لری نه دی. خورسپد لوته یې دعزم ،خیال،استعداد،پوهې، اوهمت زیات کوښښ په کاردی.

شاعری ځانله یوه دنیاده.دازماپه وس کښې نه ده چه ټولې جوړوونکې برخې یې وشمیرلی شم.دومره بس ده چه ووایم دشاعرعلاقه هرڅه ځانته جلبوی او هیڅ څیز یې له ستر ګو نه نه تښتی.دشعرحرص حد نه لری -اوډګر یې په رښتیا! بې پایان دی . دشاعر حرفه ځانله رموزلری چه ورووروعمومی پوهه ګرزی. سره ددې هم،په دغې پوهه کښې د اسې معما ګانی شته،چه له بده مرغه مونږ هریوه ته نه ښکاری.

زماپه دې وینا کښې دا مطلب نه دی نغښتی چه زه دې شعرته ګوندې په فوق طبیعی قایل یم، خوداله دې امله چه زه دهنر په سپېڅلتوب او دهغه په پاك الهام اومامورریت کلك ایمان لرم. زه له (لیونیدلیونوف)سره موافق یم چه وایې:«هیڅ څوك نه شی کولی له هنرنه سپېڅلتوب و اخلی بې له دې چه خپله جزاووینې» یا دا چه : هیڅ څوك ددې ادعا نه شی کولی چه هرڅوك پرې قادردی خوچه پوره زیار او هاند وباسی » بله داچه: «برسېره په هغه چه زیات زیار بې بولی یوبل نسبتاً مهم څیزهم ضروری دی-استعداد » د(میخائیل سوت لوف) نظمونه دد بې ښکاره مثا لونه دی چه د شاعرحرفه څومره فردی ده ، هرشاعرځانله آوازاوروی او ځانله د نه تېروتنې وړصفاتو خاوندوی .

همدغه دلیل دی چه شاګردان تر هغه چه په شاعری کښې شخصیت شوی نه وی زیاتره دخپل قوی استاد ترتاثیر لاندې ځی. هغه ته چه په شعر کښې برابراستعداد لری دبل چا دمهارت سحر قاطع کیدای شی. هغه ته چه رښتینی استعداد لری سره دټولو خبرو دایو نوونکی (محرك)وی ځکه چه هغه په پای کښې ځانله خپله لار پیدا کوی.

همدا اوس مې د (سوت لوف)نظمونه بیا بیا سل کرته ولوستل داد هغه جهان بینی، د هغه لاس لیك،دهغه دزړه تکهار او دهغه جهان دی.ده بل رازنه شوای لیکلی. ځان ته صادق کیدل او

دځان رښتینی افاده کول-درښتیانی استاد نښه وی. که په ځانګړی ډول وکتل شی دهغه ځینی قافیی ساده او بیخونده بریښی مګر یو دبل په قرینه کښې هغوی ته لی تازه کوونکې ، نوی، اوښوونکې دی .

شاعر لوستو نکی دیته مجبوره وی چه غوږ وباسی او یقین وکړی . کله چه له حرفه ګری (CRAFTSMANSHIP) نه بحث کیږی سړی په دې مجبور شی چه تل داووایی چه یوازې دسلیقې یااستعداد لرل کافی نه وی.

دارښتیاده چه مونږ مخصوصاً په ځوانانو کښې زیات شمیر مستعد اوحتی ماهر نثرلیکو نکی لرو. مګر سره دد ې هم مونږ د یو ه پا خه اورښتیا نی استاد له لرلو څخه ډیر لری یوهغه استادی چه که یا ویل یې له استعداد نه په پرته خطر هم ولری-دجهان بصیرت اوپوهه په کښې وی د جهان حقایق ، نه تخمینات په غیږ کښې ولری اوداهغه په کښې قوی و ې چه تخلیق وکړی نه تقلید .

از آد اودقیق قضا وت هم د ښې لیکوا لی لوی جز دې.

«زه پوهیږم چه زیاته موده ژ و ند نه شم کولی ،اوزه په دې پوهیږم چه څنګه مې با ید لیکلی وای هغسې مې لیکلی نه دی زه هرڅه وینم په هره کرښه کښې نیمګړتیاوی ګورم کله کله یوازې شپې یې یو څه جوړیدای شی .»

داد (ولادیمیر لو ګو فسکی) په یا د اشتو کښې دی .

دنه افاده کیدونکو اونه افاده شویو په باب پر له پسې اونه شلیدونکې اند یښنه،همدا ر ا ز دخیال اواجراتر مینځ نارامه او بې ر حما نه مقایسه اومخصوصاً دوروستی(اجر ا) په باب دردوونکی نارضایت دهنر من او ی لوی مشغولیتونه جوړوی.

بې قدری

لکه ګل د بیا با ن هسې او ئیږ م
خو ك مې نه وینی په ستر ګو چه څه کیږم

د ښا یست قد ر مې هیچا سر ه نشته
د ا نسا ن وتش نظر تـه هـو سیـږ م

الفت

لیکونکی : ګریاچوف (شاعر)

پښتو کونکی : حسن کاکړ

دشعر په باب تفکرات

— ۱ —

زه د رومانیې د (کونسټانزا) په لمرسوزولی ښار کښې له یوی ډلې ملګرو سره ناست وم. یوه ملګری بل ته وویل :

«دشعر لیکلو دپاره کوم حال ډیر مناسب ګڼې ؟؟»

هغه ګړه چه :

«څه وخت چه وزی یم»

«او بر سیره په هغه ؟؟»

«کله کله چه شاوخوامې زیات غالمغال وی. مثلاً د اخبار په دفتر کښې، چه کوم وخت یوه لو یه خبره پېښه وی».

«هغه وخت څنګه ! چه زړه دې نا څی اوته د خوښی احساس کوی ؟»

«اوه ـ هغه وخت له خپلو ملګریو سره کښینم»

— ۲ —

مونږ دیوه سین په غاړه ناست یوـ ځا نوته لمر ور کوو. وانبه او بوټی تك شنه دی ـ او دشګو دغونډی دپاسه خوتنکی رونې دمرغیو په آوازو ژوندی دی. داوړی په وروستو شپو ورځو کښې تاسې له داسې آوازسره اشنا معلومیږئ، خواوس دچونې چونهار د نړی ډیره خوند وره موسیقی ده ـ که څه هم دهغوی ډیر خوازه اولوړ آوازونه لا تر اوسه چوپ دی.

مونږ ناست یوسګرټونه څکوو. اودخپلو هغو و ړو کښتیو ننداره کووچه دژوند وړه نښه لری ـ اوهمداراز ددنیایی مسئلو په شاوخوا کښې سره په بحث لګیایو. له مونږ څلورونه یومحلی شاعرجګیږی، ځی دسین غاړې ته او واړه شنه بوټی له پښو لاندې کوی. چنګك یې کښ یږی ـ اووارپاریې خطاشی ـ ټول غلی کیږی ـ شاعر مو نږ ته مخ اړ وی ـ او ډیر خواشینی خواشینی ګوری.

مو نږ یې پو ښتو.

«داڅه وو ؟»

«ماهی (۱)»

«ولې دې پر پښود ؟»

دی اوزې ښوروی او وایی.

«ښوی شیطان او ښوینده لکه دشعرقافیه».

— ۳ —

ددوبی یوخوند ناك مازدیګر ځلیږی او وزر داري وریځې په سره او رژدی. د سیند اوبو عجیب رنګ نیولی ـ او د باغ مڼې لکه زیړ نارنج داسې بریښی. د باغ دوره څنګ ته چه مخ په سیند ده په سپینو ناز کو جامو کښې یوه چټه پېغله ولاړه ده.

(۱) هغسی ماهی چه ډیر ښویه وی او په لاس کښی نشی نیول کیدای

زماملګری چاچه په یوه یا بل دلیل یې په ټولو شاعر انو رخه کړی ، آه کا ږی او وا یی :

« ستا د پاره ډیره ښه ده »

« و لی »

ښه ـ ته ټولو ته ښه و ګوره. داڅه شی دی ؟؟ .

یو جوړ کړی شعر !

یوازې هغه څه چه باید و کړی دادی چه یو څو قافیی ورواچوې. بیانو چاپ ته تیاردی » هو! « یوازې » . په هنر کښې دغه د « یوازې » او د هغه غبرګونی و ر و ر « تقر یباً » دهر شی د پاره یوه کلی ده .

ـ ٤ ـ

د د و و شاعرانو مناظره .

یو وایی :

« د شعـر ر و ح د عصـر مو ضو ع ده »

بل مو افقت ښکا ره کو ی « د ر سته د ه »

« اوس ـ تراکټور درواخله ـ هغه څه شی دی ؟ »

« دا ښه خبر ه ده ـ څه شی د ی ؟ » .

« یوماشین ـ د عصر نښه »

« د ر سته د ه » .

« یاراکټو نه در واخله. څه په زړه پورې دی ؟؟. البته . څه لړ زوونکی د ی ؟ ؟ بیشکه . سر ه د د ې هم ـ رو ح د مځکې ار زو کو ی .

سره ددې هم ـ را کټ د فلزاتو یوه برخه د ه یو ما شین دی . دشعر پوره مواده نه دی »

« نه ـ پوره نه »

او دوی په همدې ډول په سره سینه او په ډیر دقت مباحثه کوی . خو که یو څوك روح ته چه هغه د شعر مغز دی ـ دغسی کتلی شی ـ نو دا درسته ده چه یو څوك به د ګلانو او را کټو نو شاته ور څرمه ، دتل پائیدو نکو ستورو اوسپو ږ مۍ شاته ور څرمه ، خندان ګلا ن ـ ځلیدو نکې سیندو نه او دبراقو ستر ګو پیغلې هم ولیدای شی . او که ته په دې کو شش پسی شی چه کوم یو یې ترې ایسته کړ ی ، نړ ی او بشری روح به په غربت لتاړ کړ ې . داسې به هم خپله ژ به او خپل تفکر .

(پا ی)

داشنائی اثر

له غمو سره مې هو مره اشنا ئی شو ه چه یې ا و س ر ا ته مشکله جد ا یی شو ه

له تر خو زړه له صبر یږ م چه عادت شی د ښمن هم سړی ته خوږ شی چه یار ی شو ه

ا لفت

دظاهر «افق»
څېړنه او لیکنه

اپیکور او دهغه ژوندی فلسفه

دافلاتون دمرګ لاوه کاله نه وه تیرشوی چه دزاړه یونان د(ساموس) په ښارکښې په کال (۳٤۲ ق م) اپیکور پیداشو. (۱) اپیکور له یوې غریبې کورنۍ څخه و. پلاربې معلمی کوله او موربې پالبینه وه. موربه یې همیشه دخلکو په کوروکښې ورکه وه د هغوی دلاسوخیتی به یې کتل، پالو نه یې ورمعلومول او اینده نیک مرغۍ به یې ورته ښودلې. دوی د دغې لارې څخه خپله ګذاره کوله. دخپل ساده ژوند چارې یې په دغه خوارۍ سره تامینولې، هغه وخت چه داپیکور مورپه کورو کښې ګرځیدله نودی (اپیکور) پخپله خوراوپرو کی و، او همیشه به له موره سره ملګری و. ددوی پرپالو خبرو او بیا نو ته به یې خو را په د قت غوږ نیوه، او حیران به وچه داخلك څه کوی او په څه اخته دی.

دی دد غه وخته څخه وپوهیده چه د دې خبرواو کاروڅخه مقصد څه د ی.

پال کتل یعنی څه؟ اودڅه دپاره؟؟

دده تنقید ی استعد ادهم له د غه ځایه څخه وبرینبید، او خپل انقلابی فکریې مخ پرانکشاف پسې را پورته کړ.

هغه وخت چه اوی سکندر مړشو بیانوده اتن پرینبوده اود (کولوفون) ښارته چه پلار یې هم هلته و، ولاړ. څه مود ه چه یې تیره کړه بیانو بیرته اتن ته راغبر ګ شو. په اساسی تعلیم یې لاس پو ری کړ، او فلسفی مطا لعې ته وجوغیده، چه په دغه ترڅ کښې یې ددیمو کریت (۲) پرفلسفه باندې ستر ګې ونښتې او هغه یې پوره پسې تعقیب کړ — څو په پای کښې چه یې ښه قدرت پیدا کړ، بیایې نو نوموړی فلسفه ښه

(۱) اپیکور (اول مخ)

(۲) دزاړه یونان یو مشهور مادی فیلسوف دی.

تحلیل کړه، او خپل ډیر تازه ابتکارات یې نور هم انسانانو ته دمادی فلسفی په غیږ کښې دپیغام په ډول ورپریښوده . اپیکور ډیر کتابونه رسالې اومکتوبونه لری-خو ارمان دادی چه دهغه ټول اثارموږ ته نه دی رارسیدلی. بعضی پوهان دده درسالو، کتابواونورو لیکنوشمیر (۳۰۰) دری سوه بولی .(۱) یومشهور کتاب یې دلو کریتوس (داشیاوودطبیعت په باب) دی چه دده مشهورشاګرد دهغه خورانبه بیان اوتفسیر کړیدی . ده په خپلو مکتوبونو کښې اومړنی مکتوب هرودوت (۲) --(HERODOTES) ته استولی دی چه متن یې دادی :

«ګرانه هرودوته! زماخبرې ټولې دجهان اوطبیعت شرحه دی ــ څرنګه چه ډیر خلك زما په فلسفه ښه نه پوهیږی-ښه یې نه ځینې راځی، نوزمافلسفی مکتوبونه اورسالې هم نه لولی تردې اندازې یې بد کیږی چه زمابه فلسفه ځان نه پوهوی چه زمامادی اوطبیعی فلسفه یعنی څه؟؟»

«هرودوته! ددې دباره چه زمابه فلسفه اوزما دطبیعت په باره کښې خبرې دریاندې ونه غمیږی نومې ټوله فلسفه به ډیر مختصراو فارمولیك شکل درته وکښلې چه هم ته اوهم نورخلك استفاده ځینې وکړی (۳)»

(۱) جهان نومجله .

(۲) هرودوت دزاړه یونان یو بوخ مؤرخ دی چه دتاریخ پلارې هم بولی .

(۳) جهان نومجله اتمه شماره څلورم کال .

اپیکور دعمر په پای کښې به یوې سختې ناجوړی اخته شو- هغه وخت چه دی به سنګ مثانه اخته و، خپل یوه شاګردته یې چه خورا ځیرك اولایق وونوم یې هم (ایدومنه (IDOMENEE) یادشویدی یولیك ورواستاوه چه متن یې دادی :

«ګرانه شاګرده (ایدومنه)، !»

«ډیرد خوښی ځای دی چه زه تاغوندې لایق اوځیرك شاګردته په عین ناجوړی کښې خبرې لیکم زه اوس دمثانې په ناجوړی اخته اوخورا په عذاب یم-شپه او ورځ راباندې یوه ده - آرام مې نشته او په ژوندنه پوهیږم، خوسره ددې دومره زحمته چه زه پرې اخته یم بیاهم په غم نه یم لړلی. دا ځکه چه له مرګه نه بیریږم... اوماغزه مې له اوهاموشخه پاك دی ...»

«داماته معلومه ده چه ته له ما اوزماله فلسفې سره زیاته علاقه لری نوزه هم له تاسره ډیره مینه او محبت لرم. داخبره درته وایم چه زه به نن یاسبامړشم، ته به نود (مترودور) پر کوچنیانو پام کوی دهغوی پالنه به پرخپله اوزه اخلی هوښ کوه چه در څخه بې لارې نه شی او په موهوما تو کښینوځی (٤)» اپیکور خورا ډیر شاګردان لرل، ده په یوه باغ کښې خپل مکتب خلاص کړی و. ډیرښه شاګردان یې تربیه کړه-په خورارفاقت سره یې ژوندورسره

(٤) اپیکور ٤م مخ

کاوه، او دده او شاگردانو ترمنځ د بشری انډ یوالی گرانښت موجود وو، تر دې اندازې پورې اپیکور د خپلو شاگردانو زړه خوشاله سا ته چه په سپکو ناجوړیو او لبزو لبزو تکلیفو به یې هیڅ نه خبرول او هغوی یې نه غمجن کول - نو په دغه تناسب شاگردانو هم دی دوست او یو واقعی رهبر ناله مثلا (لوکریتوس) چه دده یو هوښیار او ډیر ځیرك شاگرد دی وایی :

«اپیکور زموږ یو واقعی مشر دی، دغه سړی موږ له ډیر وافتو او ذهنی خرابیو څخه خلاص کړوده د خپلې مادی فلسفی په غیږ کښې د ډیرو انسانانو د ژوند ارزو گانې د هغه طوفانو څخه وژغورلې کومو چه د خاورو سره برابرولې.(۱)»

اپیکور وروسته له ډیرې او سختې ناجوړۍ څخه په کال (۲۸۲ ق م) د عمر پر ۸۲ یم کال باندې مړ شو.

دده ژوندۍ فلسفه:

(۱)- د اپیکور په زمانه کښې یوه روحی فلسفه موجوده وه چه ویل یې پس له مرگه څخه روح یوه بل ځای ته ځی. اپیکور وویل چه زه داسې غیر مادې روح د مادی فلسفی له مخې نشم منلای البته چه انسانی روح به د انسان تر ژوند پورې ور سره ملگری وی چه هغه نو دده له مرگه سره سم له مینځه ځی - او که داسې نه وی نو روح یعنی څه؟.. هیڅ (۲)

(۲)- د اپیکور فوق العاده نبوغ لا دادی چه ده پخپل وخت کښې. د تدریجی تکامل تیوری ته غاړه ایښې وه، او عقیده یې داوه چه تدریجی تکامل یو حقیقت دی. په داسې حال کښې چه دغه خبره نو نه تر ده د مخه چندانې موجوده وه او نه یې په وروسته (دده شاگردانو) د لامارك (۳) تر زمانی پورې چا ددې خبرې لای را پورته کړیدی (٤).

(۳)- اپیکور پخپله فزیکی فلسفه کښې وایی «مواد چه ټول مرکب شویدی له بسیطو اجسامو څخه یې ترکیب میندلی دی.»

دی وایی چه: ټول اجسام ابعاد لری نو که ووایو چه دغه (ابعاد) د (بی ابعادو) څخه پیدا شویدی گواکی د یوه سالم فکر په حضور کښې مو خطا کړیده.

او یو صحیح عقل هیڅکله دا خبره نه منی.

(٤)- دیمو کریتس د اتوم په باره کښې ویلی دی چه اتوم نه تجزیه کیږی (٥) ددې خبرې په وروسته کښې اپیکور هم دا وویل چه اتوم د تجزیې وړ نه دی. دا باید ووایم چه (د اتوم په باره کښې خوراتر ډیره وخته پورې دغه خبرې رواج وی چه اتوم نه تجزیه کیږی مگر د ساینس په تحول کښې دا خبره په عملی ډول ثابته شوه چه اتوم د تجزیې وړ دی)

---

(۱) اپیکور (۵-۳۰) مخه

(۲) اپیکور ۱۰ مخ

(۳) په ۱۸ مه پیړۍ کښې د فرانسی یو نامتو دولو چیست تیر یوزی.

(٤) تاریخ فلسفه (۱٦٦ مخ)

(٥) تاریخ فلسفه (۹ م مخ)

او دا بی وویل چه اتوم دلمرد نظام په شان شکل لری یعنی اتوم یوه هسته لری چه پروټون نومیږی مثبت چارج لری او الکټرونونه یې د پروټونو سره معادل دهستې پرشاو خوار اګرځی او منفی چارج لری چه ګواکې په دغه وخت کښې اتوم خنثی دی .

(۵)- دا پیکور یو بل مهم قانون چه (لوکریتوس) ور تحلیل کړیدی دا دی :

چه «شی» نه عدم کیږی او نه پیدا کیږی (۱)

(٦)- اپیکور چه په خپلې اجتماع کښې سترګې وغړولې دهغوی خواری او در بدری یې ولیده ، دهغوی زګیروی او اسویلی یې ډیر واوریده . ده ولیده چه هغوی به دیوې خواله کار سره چندانې نه ووجوړ او له بلې خوا به یې ویش و آخ ډیر کاوه . نو یې وویل که څوک وغواړی چه دداسې خلکو دغسې شکایتونه او غریبی ور کې کړی ، نو باید دیوی خوا یی په کار ګوتی ور پورې کړی او دبلې خوا دتفکر لار ورته خلاصه کړی او که داسې نوی او تکیه پر بل لاس وی نو به نه آه و فریاد ورک شی او نه به ذهن له او هامو څخه خلاص شی .

اپیکور به خپلو وطنوالو ته ویل چه ښه ! دغه طوفانونه - بارانونه ، تالندې - او نور طبیعی حادثات ولې په میتافزیک پورې تړی ، او څنګه یې له هغه ځا په څخه بولی ؟ ؟

کوم دلیل ورته شته ؟... یه هیڅ (۲) دا صرف هغه طبیعی حادثات دی چه د فزیک په علم کښې تشریح کیږی او د علت د معلول په پرنسیب پورې اړه لری .

دا پیکوره څخه که به چا پوښتنه وکړه چه دغه ما دی روح (چه ته یې منې) او یا دغه موجودات په اخوا کښې په بل څه اړه لری او که نه ؟؟

ده به په خور اورین تندی او فراخ زړه منفی ځواب ور کاوه دی علاوه پردې چه دخپل زاړه مذهبه څخه تېر شوی وو ویل یې چه باید پر ضد یې تبلیغ وشی (۳) ځکه داسې وهمونه خلک دخپل کار او روزګاره اچوی - دژوند په چارو کښې ګوتې نشی وهلای دطبیعته سره مجادله نشی کولای دا فاتو - حادثاتو او نورو تاوانو مخه نه شی نیولای .

نو دپاره ددې چه باید انسان پردې ټولو خبرو حاکمیت پیدا کړی لازمه ده چه ذهن له وهمه وساتی او دیوه آزاد فکر په ساحه کښې قدم ووهی .

دا پیکور خبرې مې صرف ددې دپاره چه اپیکور دیوه واقعی او لوی فیلسوف په حیث و پیژنو ولیکلی البته چه دده ډیرې فلسفی نکتی به مانه وې ادا کړی خو که څوک وغواړی چه دده ټوله فلسفه ووایی او یادې له هر اړخه څخه ښه و پیژنی باید دده مطالعې ته ور داخل شی او په فلسفه کښې یی ښه ور ننوځی .

(۱) اپیکور د (۵ مخه څخه تر ۴۳۹ مخه)

(۲) دغه فلسفه نن په فزیکی کمیا کښې (لاوازیه) د کیماد پوهنی پلار ښه ثابته کړیده چه وایی «په خپل طبیعت کښې نه ماده پیدا کیږی او نه ورک کیږی»

(۳) اپیکور (۵م څخه تر ۳۰م مخه)

سعید افغانی

هدف

بې هدفه کار او بې مطلبه لالهندی دلیونیو او وړو کار دی. پوه او پاخه خلك له وسایلو هر څه ړومبې، خپل هدف ټاکی او بیا وروسته مطلب ته د رسیدو په لار کښې له وسایلو څخه کار اخلی. واړه مطلبونه او ناڅیز هدفونه د خلکو داذهانو د استعدادونو نه ترجمانی کوی.

ترکومې اندازې چه علمی سویه لوړ یږی او ترکومه حده چه خلك له حقائقو سره اشنا کیږی - په همهغه اندازه د خلکو د هدف مقام لوړ یږی له وږې سره د ګیډې د مړولو خیال وی - او له لوڅ بربنډ سره د خپل ځان د پټولو سوداوی. ځان او ملك د اسامیو غم خوری - او خپل روابط ټینګوی - صوفی سره مطلب بل څه وی - او د عالم او فاضل دنیا هم رنګینه ده. ځوان سره د ژوند د ښه کیدو تلوسی، او زښت زیات ارمانونه دی. واړه او زاړه بیا په خوړلو کفایت کوی. څوك د خپلې سات تیری د پاره کار کوی او له چا سره بیا د بل چاغمونه وی.

پاخه خلك پاخه کارونه کوی - او د پخو خښتو د یوالو نه جوړوی - نه غولیږی او نه د غولیدو کار خوښوی. څوك بیا خلك غولوی او د خلکو د غولیدو په کار باندې فخر هم کوی، رښتیا! سوچه او پخو خلکو ته د خلکو د غولولو کار ګناه ښکاری او ګناه کار ان نه خوښوی. ځینې هر دم خیالی لری او له هر چا سره سازش خپل کمال ګڼی، ځینو ته بیا د غه خوی او خاصیت ښه نه ښکاری، او د کرکې په نظر ورته ګوری، یو د خپل مطلب اشنا دی او خپل مطلب بې مطلب دی او خپل مطلب د پاره جار او قربان لری او لاس په نام ولاړ وی، او داسې نور خپل کسر شان کوی. بل بیا خپل ټول مطلب د خلکو د مطلبونو په ضمن کښې غواړی - او کوشش کوی چه د خلکو پاك مطالب انجام شی. یو د بوې ورځې اشنا او ملګری وی. بل سره بیا هر څه قوی ښکاری - او په یوه لاره روان وی. څوك ښه کوی او د ښو کولو په وسیله خپل حیات ته ادامه ور کوی - او له چا سره بیا د احس قوی وی چه د درنده لیوه او پړانګ په شان د خلکو وینې وخوری او د خلکو په زورولو کښې خپل شان او شوکت وساتی. هو! مختلف هدفونه او ارزوګانی له خلکو سره لیدلې کیږی. ګومان کوم چه اوس د ارزوګانو اکثریت خراب دی او اخلاقی او اجتماعی مزیت چندان ښه نه دی - او ورځ په ورځی د غه متاع خپل بازار بایلی.

ښه نو څنګه کیدی شی چه اجتماع کښې د خلکو هدفونه ښه شی ؟؟؟

ایا یو اخبار او مجله دا مسئولیت په غاړه نه لری چه د خلکو هدفونه د لیکلو په وسیله سوچه کړی ؟؟ ایا یو عالم او فاضل دا حق لری چه ووایې دی په اجتماع کښې مسئولیت نه لری ؟؟ ایا څوك حق لری چه پوه خلك د اجتماعی دردونو په لار کښې وترټی ؟ نه خیر ! زما په عقیده مسئولیت یوازې کوم رسمي ماموریت نه دی بلکه مسئولیت د پوهې او عقل په اساس دی په هره ټولنه کښې چه څو مره پوه خلك مسئولیت لری په هغه اندازه عادی خلك مسئولیت نه لری . په هره جامعه کښې پوه خلك د جامعې د حیاتی پانګې مثال لری ، هغه جامعه موفقه ده چه خپله پانګه په معقول ډول سره په کار واچوی . کوم جوامع چه په دغه راز نه پوهیږی هغه جوامع به دهمیش د پاره د زړه په رنځ اخته وی او دردونه به یې ډیریږی او د تداوی چاره به یې نه وی . ګیلې او ګذارې به زیاتې وی . او عمومی نفرت او بې اعتمادی به جاری وی ویره به ډیره وی ، ذوقونه به خراب ـ مایوسی به زیاته او پوښتنه به نه وی ، او یو څه واړه او سازش کاره خلك به خپل کړه وړه او جدیت خدمت بولی نو په داسې وخت کښې بیا هم حقیقی پوهانو ته غلی پاتې کیدل لوی مسئولیت لری ؛

ځکه هره ټولنه د پوهانو په حرکت او برکت مخ په وړاندې ځی . په دې حساب پوهان ټول باید په ګډه کار وکړی هغه دا چه د ملك او وطن د خیر په غرض خپل ټول مساعی په کار واچوی او په یوه لاس د جامعې له ساری امراضو سره علمی مجادله شروع کړی . عقل او پوهنه د خلکو مشکلات لری کوی .

نامعقولیت او ناپامی د خلکو پیټی درندوی او ورځ په ورځ کارونه وران او ویجاړوی ؛ نن په سبا ځان غولول او د نن ورځې کار بلې ورځې ته پریښودل حتماً بارونه درندوی . هو ! دا بهتره څه چه د الازمه ده چه د سبا کارونو د پاره د نن څخه سرشته ونیوله شی او لا داوس څخه د دې غم په کار دی چه سبا به څه کوو . زمونږ سبا زمونږ د تعیین او تخمین له مخې سنجول کیږی ، نو ډیر زور په دې خبره باید واچول شی چه تعیین ـ تخمین او سنجش درست شی . زمونږ تقدیر دا نه دی چه موږ تقدیر ته په نامعقول طور سره ځان سپارو . نه خیر ! باید ووایم چه نا پوهه خلك په دې نه پوهیږی چه د دوی تقدیر څنګه دی . پوه خلك پوهیږی چه تقدیر او د تقدیر واك دارد خلکو څخه د کار او د کولو غوښتنه کوی . خلك مکلف دی چه ښه او بد وپیژنی خپل هدفونه ښه کړی او د یو پاك مطلب او هدف د پاره هاندا و کوښښ وکړی . زمونږ مطالب او هدفونه که د خلکو

په نگاه ښه کیږی او مرو ښه نتایج بښی — زمونږ په ملك کښې ښه بادر ده عالم او فاضل خلك دومره شته دی چه دوی که د خلکو اذهان تنویر او اصلاح کړی او د خلکو افکار د اجتماعی خدمتونو ـ سولی او عاطفی په خوا تنویر کړی حتماً به عومی رفاهیت راتلونکی شی او اجتماعی مفاسد به محوه شی . په دغه منظور زمونږ امید په هر صورت دبیا او بیا دپاره هم د عالمی او فاضلی طبقې په خوادی مگر دا باید ووایم چه څنگه عالم او فاضل ؟؟ زمونږ امید او د مطلب غټ ټکی دا هم دی چه د ملی او قومی اصلاحاتو دپاره د قوی پوهانو په وسیله د عمومی اصلاحاتو او بهتر پر مختگونو د پاره چه ارامی او اطمینان هم ور سره وی ، یو تر بله د خلکو د پوره مرستې او تعاون وسایل په کار واچولی شی . که څه هم شاید اوس همدغه مطلب دپاره اخبار او مجلی علماء او فضلا کار کوی مگر که دغه کار نور هم ښه قوی او اساسی شکل ونیسی ـ حتماً به د جامعی څخه ناوړه رواجونه ـ خرافات پرستی ـ گوندی او دښمنی محوه او یالیږی شی . یعنې ضرور به د خلکو هدفونه د عالي مطلب په منظور چه هغه د قوم د آرامی او نهضت او ترقی خیال دی ښه پوره اماده او تیار شی .

راځیء چه دا مجلې او اخبارو نه خوو گورو او د اعلماء او فضلاء وگړ ووچه له دوی سره د دغه مطب د پوره والی دپاره څومره څه شته دی ځکه زموږ هدف عالی دی او مشکلات موزیات دی ، یوازې کومه چاره چه ده هغه همدا چه ټول په گډه دغه درونده بار تر منزله او مقصده ور سوو د اوزما هدف او د هدف هدف .

امید دی چه زما هدف ښه وسنجولی شی چه د خلکو د خیرغو ښتونکی او علاقه مندیم .

بختانی

مناظره

دوه ملا یان ووچه یو «جامع ملا» ویعنی په ټولو متداولو علومو کښې یې برخه لرله او بل «جامې ملا» یعنی دښو سپینو جامو، غټې پګړۍ او اوږدې امسا خاوند و.

جامع ملا د جامو ملا د ظاهری عوام فریبه کړووړو نه په ډار کښې واو ویریده چه دهغه چالاکۍ به د ده د اعتبار د سقوط سبب شی.

جامو ملا که نور په هیڅ نه پوهېده دومره پوه وچه څرنګه چه دسبا په ختو د شپې تیاره کوچ کوی او دلمر په مقابل کښې دستورو او سپوږمۍ رڼاور کېږی همداسې دعلم او پوهې په مقابل کښې جهل او ناپوهۍ څه حیثیت او مقام نه شی ساتلی، نو ځکه خپل اعتبار یې په خطر کښې لیده او د جامع ملا د مقام او اعتبار دټیټولو دپاره به یې هغه پسې پروپاګنډ کاوه.

ددواړو ملایانو داسوړ جنګ ددې سبب شو چه دواړه د مناظرې میدان ته ووځی او د عوامو په مخ کښې د لیاقت امتحان ور کړی.

کله چه دوی د مسابقې ځای ته تلل نو هر یو خپل خپل مقتدیان او د هر یو پسې طالبانو غټ غټ کتابونه په تخرګونو کښې نیولی، روان وو.

دواړه ملایان یو تر بله سره ښه پوهېدل او هر یو ته خپل او د بل زور ښه معلوم و، خو خبره په دې کښې وه چه امیان او ناپوهان څرنګه پخپل قوت او لیاقت باندې پوه کړی او حریف ناپوه ثابت کړی.

داصولو سره سم، مناظره شروع شوه. جامو ملا وار دواره د بغدادۍ سیپاره (الف بی) خلاصه کړه او په (بسم الله الرحمان الرحیم) باندې یې ګوته کښېښودله چه دا څه دی؟

د جامع ملا دا خیال شو چه د دې مبارکې کلمې عبارت لوستل او یا یې ترجمه کول یو مبتدی سړی ته هم اسان دی، ښایی چه مقابل طرف یې په نحوی ترکیب کښې راسره مباحثه وکړی. نو په ډېر متانت او وقار یې بې د کومې مقدمې وویل:

(دا کلام دی!)

جامو ملا کټ کټ وخندل، د خپلې مصنوعی خندا او ازلوړ او وخت یې اوږد کړ، پخپله اوږده زیره یې ورولاس تېر کړ او خلکو ته یې مخ واړاوه او ویې ویل: وګورئ مولانا صاحب ته چه (کلیمی) ته (کلام) وایی؟ د جامع ملا ځواب په

نحوی اصولو برابرو خو په عامیانه نظر دده نه غټه غلطی شوي وه او هغه ترکیب ته یې چه عوام (کلیمه) بولی ده (کلام) ویلی و.

نو ځکه د حاضرینو د توهین امیزو کتـ ـنو او بسخندونو تر تاثیر لاندې خولې خولې وچه ناڅاپه جامو ملا (واو) په توری باندې گوته کښېښودله په ډېر ډپ او فاتحانه انداز یې ده ته مخ وا ړاوه چه مولویصاحبه! داڅه دی ؟

جامع ملا به دې چرت کښې و چه داسې ځواب برابر کړی چه هم به واقعیت کښې صحیح وی او هم یې د دوی ذهنیت صحیح وگڼی په دې کښې لږ څه ځنډ نی غوندې شو اود (واو) د توری په لسانی صفاتو حالا تو او خواصو یې غور کاوه چه جامو ملا په هسکه غاړه دښې لاس څلور گوتې ده ته نیغی کړې او د تهدید په صورت یې زیرې ته و نیولې، د تمسخر په لهجه یې ورته وویل.

«ځاردې شم و ډودې وپوا! «داخو د بغدادی سپارې اول مخ دی!» نا پوه خلک په دې پوه شول چه جامع ملا به هیڅ نه پوهېږی او دا بل له سترو پوهانو څخه دی چه دغسې لوی او مشهور عالم ته یې د ډېرو خلکو په مخ کښې ماتې ورکړه. دا خبر په کلیو او اولسو نو کښې خپور شو او د جامو ملا د فضیلت خبرې به په هر جومات کښې کېدلې دی د خوشحالۍ نه په جامو کښې نه ځائېده او په جامو کښې یې هم فرق پیدا شو، د زکا تو نو؛ سخاوتو نو او صدقاتو رجوع ورته وشوه او په ژوند انه کښې یې محسوسه ترقی و شوه د جامع ملا اعتبار سقوط و کړ او د ومره خوار شو چه چا یې په آذان کلیمه هم نه ویله د پوهانو په باب کښې د نا پوهانو قضاوت له دې زیات نه وی او چېرته چه دغسې قضاوتونه کېږی پوهه د چالاکۍ په مقابل کښې دغسې ماتېږی.

کله چه د پوهې رڼا خوره شوه نو و روستی نسل دغسې قیصې پخپلو تاریخونو کښې لیکی خو گمان کوم چه دهغو گټه به تر دې قیصې زیاته نه وی چه د جامع ملا په حق کښې ولیکله شوه. خدای دې وبخښی!!

تقریظ ژواك

دشاعر پسرلی

فنا ساپی

زمامخې ته یوه وړه دشعر رساله پرته ده ددې رسالې لیکونکې ځوان شاعر (فناساپی) دی داچه «فنا» څوك دی؟

فنایوځوان عسکر د ښه اخلاق خاوند - په زړه نری، مهربان - او پښتون زلمی دی - دی عسکردی مګر ذوق شاعر کړی هم دی اوښه پروطن اوخاوره مین شاعر - دوطن د کاڼی او بوڼی - ګل اوځوز - هوا او فضا - مالیار او بزرګر حتی ددې وطن له هرهرشی سره ښه کلکه مینه لری.

دغه زلمی دا کتاب یاد شعر وړه مجموعه «دشاعردپسرلی» ترعنوان لاندې لیکلې ده، اود خپلو شاعرانه جذباتو تسکین یې پرې کړی دی، خوداچه دده شعرد شعر په لحاظ څرنګه دی؟ داسوال دده همدغه وړه مجموعه ښودلای شی اوهرڅوك دده شاعرانه ذوق اوشعری قدرت دهمدغې مجموعې په کتلو ښه معلومولای شی.

زه پخپله دده دامجموعه د پسرلی یوه ښکلی دګلو نو هغه ګیډی بولم چه هر څوك دخپل خپل ذوق په لحاظ پکښې یو رنګ ګل پیدا کولای شی اود خپل نفیس ذوق تنده درنګ او ښایست په لحاظ پرې ماتوی — اوماتو لای یې شی.

دی شاعردی اوشاعرانه مضمونو نه د خپل شعر دپاره پیدا کولای شی - دده د شعرلمن ښه پراخه ده اود یوه ګلچین په شان کولای شی چه د وطن په کاڼو بوټو کښې د خپلی مشغلې حتی دنورو ذوقی انسانانو دپاره ګلان ټول کړی.

دده سره دخپل وطن ښه ډیر شیان خبرې کولای شی اودی هم د هغوی سره په خپل شاعرانه

مهارت او هنر راز او نیاز کوی او کولای ئې شی چه دا ډول راز او نیاز د شاعر زده دی نه دهر هرچا مثلا دی د باد خولې وایی :

د بز ګر غنم به بیل کړم له وښونه
دکوڅو خاورې به پورته کړم هواته
زما ساز کښې ځانګې پاڼې ونې ناڅی
دا نغمه به غږ و مه بینوا ته

پغمان ته وایی :

روح پرور ه ستا هوا اوستا فضاده
ستا خوږه وږمه رغو نو ته دواده
وطنوالو ته مدام اوسې سمسور ه
د از ما د زړه ارمان او تمنا ده

دخوږ انار د خوا ې نه وایی :

زه پخپله پیاله کښې خوږ شربت لرم
ډك او زخمی زړه له محبت لرم

سپین زر ته دا وایی :

دپنبې ګله رښتیا چه ته سپین زر یې
چه د تور و خاور و سپین ښکلی ثمر یې
زړه دې چوی ځکه له ډیرې بې صبرۍ نه
زموږ مړی کفن نه درلود خبر یې

په همدې شان دده مجموعه له ډیر و ویناوو یا د ډیر راز او نیاز یوه برخه ده چه دی او دده د وطن سره مینه ښودلای شی .

په همدې مجموعه کښې دښاغلی فنا هنری ذوق د ده د هغو جو ړو کړ یو منا ظرو نه ښه ځر ګند یږی چه ده د هرشعر دژوند ی ښودلو د پاره پخپله رسم کړی دی .

دا توازن د ده دمضامینود بکارت سره ضم هرځرك دې ته ګماری چه دده اشعار ولولی او دی په همد ې اشعارو ځوان شاعر و بولی .

په هر حال د کابل مجله ملګری ده ته د دې مجموعې د لیکلو په نسبت ښه هر کلی وایی او دده همدغه شان ادبی خدمتو نو ته د ده استعداد د بیا د پاره رابولی .

عبد الکریم محب

مېلمستیا

د پشکال د سختې تود و ښې په یوه ګرمه ورځ کښې چه لمر لاد زوال حد ته نه ورسېدلی د کوزنو غرو نو له خوانه د یخو بادو نو چلندغلې شو ، او د شولګرو توده هوا هره خوا خو ره شوه مزدورانو کارونه پرېښودل . او دونو سیورو ته د دمې له پاره لاړل پاده وان خپلې مېښې اوغو اګانې د سین په خیرازه ټاپو کښې پېدې کړې د کلې ښکلو جنکو د چینې یخې او به کورونو ته رسولې وی، شپون خپله شپېلۍ د خپلو شکېدلو ګاولو سره د سرلاندی اېښې وه او د خپلې رمې خوا کښې د یوې شېبې له پاره په آرام خوب ویده شوی و ، مینانو د رنګینو اندېښنو په رنګینه دنیا کښې د ښکلو محبوبو له غاړونه لاسونه چاپېر کړی وو ، شوقی ځوانان د ګودر د مازیګرۍ ننداري په چرت کښې خمار پراته وو . د بزګرانو ښکلو مېرمنو خپلو مړونو ته پیاځې او شړومبې د غنمو د درمندونو خوا کښې رسولې وې ، په دې ورځ کښې آسمان بالکل شین و . هلته د یوزوړاو نړېدلی د ډوال سوری کښې یور نځوراو په خاور و سپېره هلک زګیروی کاوه او دلمر سخت تاویې په زېړ مخ او سپېره تندی د خو اورود جاری کړی واوسابه یې لنده لنډه شوه د ستر ګو تور به یې وتښتېد شونډو یې پتری نیولې وو ستونی یې ډګ شو . په ستر ګو کښې به یې او ښکې ډنډې شوې خپلې او ښلنې ستر ګې به یې یوې خوا او بلې خوا ته داسې اړولې لکه چه د کوم همدردلاره څاری . خودده فریاد هېچا نه شو آورېدلی ځکه چه لبزڅه وړاندې د یوې لوړې او برجورې کلا سره نژدې د دنګو چنارونو په سوری کښې د ښکلې چو ترې د پاسه د خلکو د مرکو او خندا ګانو شورما شوراو د چو ترې د څنګ د لوړ آبشار داو بوغلغلې وې دوی ته د چا د زګیروو د داستان بیا نول ډېره سخته ګناه وه ، دوی د کلا د خاوند عزت من او ګڼلی مېلمانه وو او د کلا خاوند نه غوښته چه مېلمنو ته یې د غم او خواشینۍ قصې وشی .

شېبه په شېبه به مزدورانو هر یوه ته لاس په نامه ودرېدل او ډېر پام به یې کاوه چه مېلمانه خپه نه شی د دغو قدر منو مېلمنو د کېنا ستلو د ځای شاوخوا کښې د کشمالو په ګڼو بوټو او د کافر ګل په زېړو ګلونو کښې هم نوی تازګی غزونی کړی وی . د دغې مېلمستیا پخای ته هم ډېر هوښیار خلک غوښتل شوی وو ځکه چه دا ډېره لویه مېلمستیاوه ، کور بنودې مېلمستیا ته د ډېرو لرې لرې ځایونو نه ډېرستانه خلک رابللی

وو. دلته ډېرې خوشالۍ وې ، خوازه سرودونه اود عشق مستې سندرې وې ، تازه تازه مېوې اورنګارنګ شربتونه وو ، د هرچا مخ کښې داصیلو سګرټونود بلی اېښو دل شوی وو ، مېلمنو به کله دخوږو سندرو په آورېدلو پام غلط و کله به یې سګرټ ته تیلی وینوه ، کله به یې د مېو وخوږې دانې خولې ته واچولې ، او کله به یې نظرونه دآبشار دمستو او بودهغو وړو څاڅکو خواته ځغلول چه د ویالې د څنګ اود چوترې په پستو پستو شګو او رنګینو ګلانو وریدل په دغه ورځ دچنارونو د پاسه ښکلې مرغۍ هم پخپلو سندرو کښې ددوی خوشالی تمثیلوله د کلی وړو جنکو او هلکانو هم نوې جامې آغوستې وې او هریو خپل بدن ښه پاک پری مینځلی ود کلا دخاوند دهغو وړو بچوړونه هم دعطرونو بویونه هرې خواته خورېدل کوم چه دغټو ناظرانو په غېږو کښې وو هغه پخپله هم په دې ورځ کښې د ګلابو اعلی عطر استعمال کړی وو، د هغه پېغلو ټې لو نې به کله خپلو د قناوېز کمیسونو ته کتل او کله به یې خپلو په نکرویزو سرو لاسونو ته خوشالی کوله ::: داددوی د ټولود خوشالۍ ورځ وه په دې ورځ کښې غم او درد ته په دوی باندې هېڅ لاره نه وه حتی د کلی د خاوند صحیح انتظام د پشکال سختې ګرمۍ ته هم شکست ورکړی و دغې خوشالۍ ته د هېڅ اختر خوشالی نه شوه رسیدلی . . . دا ورځ د دې کلا د خاوند د نازولی زوی د کوڅۍ د پرې کولو اود کړۍ دایستلو ورځ وه او دا لویه مېلمستیا یې هم په همدغه مناسبت جوړه کړې وه ... د دغې ورځې په رنګارنګ خوړو کښې هر چاته پوره پوره برخې رسېدلې وې خو یوازې یوې زړې کنډې چه ټول بدن یې د ډېرې کمزورۍ نه رېږدېده په داسې حال کښې چه یوه زړه بړستن او زوړ لیمڅی یې په سر ایښی وه خپل رنځور زوی یې له لاسه نیولی و ، او دلمر په سره تا و کښې کومې نامعلومې خواته روانه وه . . .

دغه زړه کونډه او د هغې رنځور غاړی زوی د کلی خاوند ته ډېر سخت مسئول ووځکه چه دوی دهغه دنازولی زوی دخیرات او د خوشالۍ دورځې په خدمت کښې ګډون نه وکړی سره د دې چه زړې کونډې ورته د خپل زوی د سختې ناروغۍ عذر څوڅو ځلې وړاندې کړی وخو هغه ونه مانه او نتیجه یې داشوه چه په بد شان سره یی دوی د کلی نه وشړل .

پای

په تیر کال کښې د پښتو ټولنې مطبوع اثار

پښتو ټولنې په تیر کال کښې - برسیره په نورو مسلکی چارو دغه لاندنی کتابونه - تالیفات او تراجم چاپ کړي - داسې بې هم نور اثار برابر کړی - چه بس د طبع انتظار باسی . هیله ده چه هغه هم په نزدې اینده کښې چاپ شی او کرانو علاقمنو ته ورسیږی - علاقمن کولی شی چه د پښتو ټولنې پخوانی او پر وسږن مطبوع اثار په ارزانه بیه له پښتو ټولنې او یا پاڼوځای نه په لاس راوړی :

د کتاب نوم	مؤلف یا مترجم	وضوع	د صفحو شمیر	د طبع شمیر	دیوه ټوک بیه په افغانۍ
خیالی دنیا	خادم	غوره ادبی پارچی چه روحیه یی اجتماعی ده او کاملاً په نوی سبک کښل شوي دی	۹٤	۱۰۰۰	۱٦
د افغانستان ځینو ژبو او لهجو قاموس	عبد الله بدخشی	د افغانستان د پامیر د شاوخوا د پښتو لهجو (سنګلیچی - واخی اشکاشمی - منجی - شغنی) او دوه ژبو (پښتو او فارسی) قاموس چه ۵۰۰۰ لغتونه لری	۲۲۵	۳۰۰۰	۲٤
د غنی پلوشې	غنی خان	د غنی خان د ۲۳ کلونو د اشعارو مجموعه ده چه لږ وړ پر شپږ نیم زره بیته او عشقی - فلسفی حماسی او اجتماعی رنګ لری او په پوره نوی سبک ویل شوی دی .	۲۳٦	۳۰۰۰	۵۰/۵۸
لیکوالی (املاء او انشاء)	الفت	له املا او انشا نه غږیږی او د پښتو نخواد زیاترو پخوانیو او او سنیو لیکوالو د غوره لیکنو نمونې معرفی کوی.	۲۲۰	۳۰۰۰	۳۵
رڼا	صداقت	د رڼا په باب لومړنی اساسی معلومات ورکوی	٤٤	۱۰۰۰	
د ما کسیم ګورکی ادبی لیکونه.	ح کاکړ	د ګورکی هغه لیکونه دی چه د خپل وخت شوروی او د نړۍ د لیکوالو ته یې د ادبی نقد په باب استولې دی .	٤٦	۱۵۰۰	۱۰

KABUL

Monthly Journal of the Pashto Academy

Publishes articles in Pashto on literature, Philosophy, Philology, sociology, art and related fields.

President of the Academy : Gul Pacha Ulfat

Editor : M. Hasan Kakar

Address : Pashto Academy,

Kabul, Afghanistan

دولتی مطبعه